رامنځته شوې محوري قوې ۲,۱۶ شکل:دودانۍ عرضي مقطع پیدا کړئ.اتکلووچې ژوند ی بار دASCE ستندرد له مخې اخیستل کیږي.

**۲,۴ پوښتنه**

اټکلوو،چې په ۲,۱۷ شکل کې د فرش سطحه را کړل شوې ده.په دغه عناصروکې مرستندویه سطحې وشمیرئ :

الف. د $B_1$ ګاډرپه فرش کې. ب. د $G_1$ سترګاډرکې ج. د$G_2$ سترګاډرکې.

د. په $C_1$ حلقوي ستنې کې. ذ. په $C_2$ داخلي ستنې کې.




۲,۱۷ شکل:د چوکاټ سطحه

**۲,۵ پوښتنه**

د لس پوړيزې ودانۍ (۱۸,۲ شکل) د باد په لور د باد فشارمحاسبه کړې:

الف. که چيرې د باد ډيزايني سرعت 140 mph اوموده يې T=0.1 N

وي دلته N د پوړونو شميردی.اولړ.ترلړه موده يوه ثانيه ده.

ب. د ټولې ودانۍ له پاسه په هرو35 فټوواټن کې د باد قوه پيدا کړئ.




۲,۱۸ شکل: لس پوریزه ودانۍ[F4:66-70]

# دریم څپرکی

## ګاډرونه (Beams)

ګاډرهغه جوړښت دی،چې په کوړوالي کې فعاليت ترسره کړي او په خپل ځان باندې بهرنی باروزغمي.

### ۱,۳ په ګاډرکې دننه قوې(Internal forces)

دموادومقاومت د کورس څخه ځرګندیږی،چې دهغه ګاډر(۱,۳ شکل)،له پاره چې د بهرنی عمودي اوافقي بارونولاندې واقع دی دهغه په عرضي مقطعو کې دننه قوې عوامل رامنځ ته کيږي،چې دعرضي قوو،کوږوالي مومنت اود نارملی یا محوري قووڅخه عبارت دی.د دې قوو له امله د بهرني بارمستوی د عمده انرشيائی مستوي څخه تيريږي.




۱,۳ شکل:د بارونولاندې ګاډ

### ۳,۲ د دننه عوامل دعلامود پيژندنې قاعدې

کله چې ديوې ميلې د یوې کيفي عرضي مقطعې په دواړو خواو کې بهرني بارونه د ساعت دستنې په مطابق دوران وکړي دعرضي قوو قيمت مثبت مثبت اوبرعکس منفي دی.

کله چې ديوې ميلې(۲,۳ شکل)له پاسه بهرنی باردميلې د خنثی محور

لاندينۍ تسمې اوږدې اوپورتنۍ تسمې لنډې کړي او يا ميله مقعره کړې د کوږوالي مومنت قيمت مثبت اوبرعکس قيمت يې منفي دی.




۳. ۲ شکل:دکوږوالي په حال کې ګاډر

کله چې دننه نارملي يا امتدادي قوه دميلې داوږديدولامل شي،نو دننه نارملي قوه مثبت ا وبرعکس منفي ده.

همدارنګه د دننه عواملو دعلامود پيژندنې لّه پاره لانديني فورمولونه هم کارولی شو.

لومړی دعرضي قوې $Q_y$ اود کوږوالي مومنت $M_{ben}$ لپاره:

$$1. Q_y = \sum_{L.S} F_y = -\sum_{R.S} F_y \text{ يا } \sum F_y = 0$$

$$2. M_{ben} = \sum_{L.S} M_x = \sum_{R.S} M_x \text{ يا } \sum \mathrm{M_o} = 0$$

ثابت بارلکه د جوړښتونو د بيلابيلو عناصرو ذاتي وزن،دماشينونو د تجهيزاتو او سامانونو وزنونه دی اوخوځنده بار لکه د پل له پاسه د ترانسپورتي وسايلو وزنونه اود ګادرله پاسه د خوځنده کرين وزن او داسې نوردي.

د جوړښتونو دعناصرو په عرضي مقطعوکې دننه عوامل نه يوازې د دوي دعددي قيمتونوپورې اړه لري،بلکې دخوځنده بارونودموقعيتونو پورې هم اړه لري.اودعناصرود شميرنې پرمهال بايد خوځنده بارپه دې

دي ډول واقع شي،چې دعنصرپه پام نيولې عرضي مقطع کې دننه قيمت ډير لوړ يا اعظمي په لاس راشي.دعنصردغه موقعيت غيرګټوراوخطر ناکه نوميږي اونه يوازې دهغود ننه عواملو پورې اړه لري چې دعنصر په عرضي مقطعو کې منځ ته راځي ، بلکې د اتکاء يزوعکس العملونو پورې هم اړه لري.

د دغه خطرناکه بارد موقعيت ټاکنه د تاثيرد کرښو په مرسته کيږی.

**۳ . ۱ مثال**

يوګاډردڅوبهرنيوبارونو تراغيزلاندې واقع دی.دګاډرپه بيلا بيلوعرضي مقطعوکې دننه عوامل پيداکړئ.

**حل**

لومړی د ګاډراتکاءيزعکس العملونه پيدا کوو،د دې لپاره د ستاتيک

تعادلي معادلې ترتيبوو:

$$\sum F_y = 0;\ V_C - 4 - 2 \times 8 = 0;$$

له د ې ځايه د $V_C$ عکس العمل پيداکوو:

$$V_C = 16 - 4 = 12\ Kpas$$

دغيرفعال مومنت د پيداکوو له پاره لاندينی معادله ترتيبوو:

$$\sum \mathrm{M_C} = 0;\ M_C - 4 \times (6+8) - 2 \times 9 \times \frac{8}{2} = 0;$$

د دغه معادلې څخه په لاس راوړوچې:

$$M_C = 4 \times 14 + 72 = 56 + 72 = 128\ Kip.ft$$

د عرضي قوود ټاکنې له پاره د ستاتيک معادله کاروو:

$$\sum F_y = 0;\ -4 - Q_I = 0\ \Rightarrow Q_I = Q_A = -4kip$$

$$Q_I^{AB} = -4kip = const$$

د کوږوالي مومنتونود ټاکنې لپاره د ستاتيک معادله کاروو:

$$\sum \mathrm{M_O} = 0;\ -4 \times x_I - M_C = 0;\ 0 \ll x_I \ll 0$$

که: $x_I = 0; \Rightarrow\ M_C = -M_A = 0$

که: $x_I = 6\,ft; \Rightarrow M_B = -4 \times 6 = -24kip.f$




$$\sum \mathrm{M_O} = 0;\ -4 \times (6 + x_{II}) - 2 \times x_{II} \times \frac{x_{II}}{2}$$

$$0 \ll x_{II} \ll 8'$$

که: $x_{II} = 0; \Rightarrow M_B = -4 \times 6 = -24\ kip.ft$

که : $x_{II} = 0; \Rightarrow M_B = -4 \times 6 = -24\ kip.ft$

$$x_{II} = 8';\ M_D = -4 \times (6+8) - 2 \times 8 \times \frac{8}{2} = -120$$




۳,۳شکل:د بهرني بارلاندې ګاډر[5:175]

**۳,۲ مثال**

يوګاډر(۴,۳ شکل) د بهرني ويشلي بارلاندې واقع دی دعر ضي قوو اوکوږوالي مومنتونوډياګرامونه يې رسم کړئ.

**حل**

لومړی اتکاء يزعکس العملونه پيداکوو:

$$\sum M_C = 0;\ R_B \times 18 - 6 \times 24 \times \frac{24}{2} = 0;$$

له دې فورمول څخه په لاس راوړوچې:

$$R_B = \frac{1728}{18} = 96\ kips$$

بيا دستاتيک بله معادله ترتيبوو:

$$\sum F_y = 0;\ 96 - 6 \times 24 + R_C = 0;$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$R_C = 144 - 96 = 48\ kips$$

دغه ارقام کنترولوو:

$$\sum \mathrm{M_B} = 0;\ 48 \times 18 - 6 \times 24 \times 6 = 0;$$

$$864 - 864 = 0 \Leftrightarrow 0$$

له دې نه وروسته دګاډرپه بيلا بيلوعرضي مقطعوکې عرضي قوې او د کوږوالي مومنتونه پيدا کوواو دياګرامونه يې رسموو:

$$\sum \mathrm{F_y} = 0;\ -Q_I - w \times x_1;\ 0 \ll x_1 \ll 6'$$

$$Q_I = -w \times x_1$$

که $\mathrm{x_I} = 0;\ \Rightarrow\ Q_A = 0$:

که $\mathrm{x_I} = 6';\ \Rightarrow\ Q_B = -6 \times 6 = -36\ kips$

په همدې عرضي مقطع کې دکوږوالي مومنت پيداکوو:

$$\sum \mathrm{M_0} = 0;\ -6 \times x_1 \times \frac{x_1}{2} - M_{I;}\ 0 \ll x_1 \ll 6'$$

$$M_I = -6 \times \frac{x_1^2}{2}$$

که : $x_I = 0; \Rightarrow\ M_A = 0$

$$x_I = 6'; \Rightarrow\ M_B = -6 \times \frac{36}{2} = -108kip.ft$$

په دوېمه عرضي مقطع کې هم د ستاتیک تعادلي معادله کاروو:

$$\sum F_y = 0;\ -Q_{II} - w \times x_{2+R_B};\ 0 \ll x_2 \ll 24'$$

$$Q_{II} = -w \times x_2 + R_B$$

که: $x_2 = 6'; \Rightarrow\ Q_B = -6 \times 6 + 96 = 60 = 60\ kip$

$$x_2 = 24'; \Rightarrow\ Q_C = -6 \times 24 + 96 = -48\ ki$$

اوس د $C$ مقطع کې د کوږوالي مومنتونه پیداکوو:

$$M_C = 0;$$

څرنګه چې دعرضي قوو دیاګرام د اساس دکرښې سره پرې کوي،نو ځکه د کوږوالي مومنت د اکستریموم قیمت د پیدا کولو له پاره لومړۍ د $x$ فاصله پیداکوو.لیدل کیږي،چې له دیاګرام څخه دعرضي قوې قیمت صفردی،نوځکه د فاصلې له پاره دغه فورمول کاروو:

$$Q_K = 0;\ R_B - w \times x = 0$$




۴,۳ شکل: دويشلي بارلاندې ګاډر

اوس داکستريموم قيمت پيداکوو:

$$Q_x = R_C - w \times x \Rightarrow x = \frac{48}{6} = 8'$$

$$M_{max} = -6 \times 8 \times \frac{8}{2} + 48 \times 8 = -192 + 384 =$$

$$= 192\ kips.ft$$ [5:186-188]

### ۳,۳ د ګاډرونود تاثيرکرښې

د تاثيرکرښه د مفهوم له مخې د قوود دياګرام سره توپيرلري دا ځکه چې دعنصرپه هره يوه عرضي مقطع کې دقوود دياګرام قيمتونه يا اردينات

يعنې د فکتورونو بدلون د ثابتو بارونولا امله منځ ته راځي لکه نارملي يا امتدادي قوه،عرضي قوه اودکوږوالي مومنت په شکل کې ښودل کيږي.

### ۳,۴ دساده ګادرداتکاءيزوعکس العملونودتاثير کرښې

**الف- د $R_A$ عکس العمل د تاثيرکرښه:** اټکلوو چې د ساده ګاډرله پاسه خوځنده بار $P = 1$ حرکت کوي(۵,۳ شکل). د $R_A$عکس العمل د تاثيرکرښه په لاندې ډول رسموو.لومړی د عکس العمل $R_A$ د تاثير کرښه د لانديني فورمول په مرسته رسموو:

$$\sum M_B = 0;\ R_A \times l - P \times Z = 0$$

$$R_A = \frac{P \times Z}{l}$$

ځرنګه چې خوځنده بار $P = 1$ دی،نوځکه ليکوچي:

$$R_A = \frac{P \times Z}{l}$$

دا چې د z فاصله د $0 \le Z \le l$ ترمنځ متحوله ده،نوځکه که

$Z = 0;\ \Longrightarrow\ R_A = \frac{1 \times 0}{l} = 0$شي،نوخوځنده بارد B په اتکاء کې واقع کيږي.

که $Z = l;\ \Longrightarrow\ R_A = \frac{1 \times l}{l} = 1$ شي،نوخوځنده بار د A په اتکاء کې واقع کيږي.نوځکه د $P = 1$خوځنده بارلاندې د R دتاثيرکرښې اردينات $\frac{Z}{l}$ دي او واحد نه لري.

**ب- د $R_B$ عکس العمل د تاثيرکرښه:** اټکلوو چې د ساده ګاډرله پاسه خوځنده با ر $P = 1$ حرکت کوي(۵,۳ شکل) د $R_B$عکس العمل د

تاثيرکرښه په لاندې ډول رسموو. لومړى دعکس العمل د تاثيرکرښه د لاندينې فورمول په مرسته رسموو:

$$\sum M_A = 0;\ -R_B \times l + P(l - Z) = 0.$$

له دې فورمول څخه د $R_B$ قيمت پيداکوو:

$$R_B = \frac{1(l - Z)}{l}$$

څرنګه چې خوځنده بار $P = 1$ دى،نوځکه ليکوچې:

$$R_B = \frac{(l - Z)}{l}$$

داچې د z فاصله د $0 \le Z \le l$ ترمنځ متحوله ده،نوځکه :که

$Z = 0;\ \Longrightarrow\ R_B = \frac{(l-Z)}{l} = 1$ شي،نوخوځنده بارد B په اتکاء

کې واقع کيږي.




۵,۳ شکل:ګادړد $P = 1$ خوځنده بارتراغيزلاندې

که $0 = \frac{(l-Z)}{l} = \mathrm{R_B} \Longleftarrow ;Z = l$ شي، نوخوځنده بارد Aپه اتکاءکې واقع دی.نوځکه د $P = 1$خوځنده با لاند ې د $\mathrm{R_A}$د تاثير کرښې اردينات $\frac{(l-Z)}{l}$ دي او واحد نه لري.

که چيرې د ګاډرله پاسه $P = P_1(ton)$ واقع شي،نود دې بارځخه د اتکاءيزعکس العمل د شميرنې له پاره بايد د تاثيردکرښې داردينات لاندې قيمت په $P_1$ کې ضرب شي.

**ج.د کنسولي يا با لکوني ګاډرد $\mathbf{R_A}$ عکس العمل د تاثير کرښه:**

د کنسولي ګاډر(۳.a۵ شکل) د$\mathrm{R_A}$عکس العمل تاثيردکرښې درسمولو له پاره د لاندينۍ مومنتي رابطې نه کار اخلو:

$$\sum \mathrm{M_B} = 0;\ R_A \times l - P \times z = 0.$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$R_A = \frac{P \times Z}{l} = \frac{1 \times Z}{l} = \frac{Z}{l} \Longrightarrow R_A = \frac{Z}{l}$$

داچې د Z فاصله د $0 \le Z \le l + k$ترمنځ متحوله ده،نوځکه :

که : $Z = 0; \Longrightarrow \mathrm{R_A} = \frac{Z}{l} = \frac{0}{l} =$

که : $Z = l; \Longrightarrow \mathrm{R_A} = \frac{Z}{l} = \frac{l}{l} = 1$

که : $Z = l + k\ ; \Longrightarrow \mathrm{R_A} = \frac{l+k}{l} = 1 + \frac{k}{l}$

له ۳.a۵ شکل له مخې ګاډرد $P = 1$خوځنده بار تر اغيزلاندې درې واړه نقطې د يوې مستقيمې کرښې په ځيرنښلوو.




۵,۳ شکل:دخوځنده بارلاندې کنسولي ګاډر

**۳,۵ د کنسولي یا با لکوني ګاډرد$R_B$ عکس العمل د تاثیرکرښه**

د کنسولي ګاډر(۳.b۵شکل) د$R_B$عکس العمل د تاثیرکرښې د رسمولو له پاره دلاندینۍ مومنتي رابطې نه کاراخلو:

$$\sum M_A = 0;\ -R_B \times l + P(l-z) = 0.$$

له دې ځایه په لاس راوړوچې:

$$R_B = \frac{P(l-Z)}{l} = \frac{1(l-Z)}{l} = \frac{(l-Z)}{l}$$

دا چې د z فاصله د $0 \leq Z \leq l+k$ترمنځ متحوله ده نوځکه :

که : $Z = 0;\ \Rightarrow\ R_B = \frac{1(l-Z)}{l} = \frac{l}{l} =$

که: $Z = l; \implies \mathrm{R_B} = \frac{1(l-Z)}{l} = \frac{0}{l} = 0$

که: $Z = l + k\ ; \implies \mathrm{R_B} = \frac{l-(l+k)}{l} = -\frac{k}{l}$

د ګاډرډ $\mathrm{R_B}$ عکس العمل د تاثیرکرښه دکنسول نه پرته هم رسمولی شو.د دي لپاره رسم شوي مستقیمي کرښي ته ادامه ورکوواود کنسول د پاې په نقطه کي $-\frac{k}{l}$ اردینات په لاس راځي،لیدل کیږي چي د دغه اردینات قیمت منفی دی داځکه چي د واحدي $P = 1$ قوې لوری ښکته خواته دی.

## ۳,۶ د ساده ګاډرله پاره د کوږوالي مومنت M او عرضي قوې Q د تاثیرکرښي

لومړی د ګاډرپه I-Iعرضي مقطع کي د کوږوالي مومنت $\mathrm{M_I}$ د تاثیر تاثیر کرښه په لاندې ډول رسموو،څرنګه چي د دې مقطع په دواړو خواووکي د کوږوالي مومنت قیمتونه سره برابردي :

$$M_\mathrm{I} = \sum\nolimits_{\mathrm{L.S}} \mathrm{M_C} = -\sum\nolimits_{\mathrm{R.S}} \mathrm{M_C}$$




۳. شکل:دځوځنده بار لاندې دساده ګاډر a,b,c,d۵

نودکوړوالي مومنت$M_I$ د تاثيردکرښې د رسمولولپاره بارد مقطعې په ښې خوا کې واردوو(۳.a۵ شکل) اودمقطعې ګينه خوا ګورو يعنې د z فاصله په $b \leq z \leq 0$ انتروا ل کې واقع کيږي:

$$\sum M_{I-I} = R_A \times a$$

که: $z = 0;\ M_{I-I} = \frac{z}{l} \times a = 0$

که: $z = b;\ M_{I-I} = \frac{b}{l} \times a = \frac{a.b}{l}$

د $M_{I-I}$ کوړوالي مومنت د دوولاس ته راغلو قيمتونوله مخې دتاثير کرښې دياګرام رسموو(۳.c۴شکل).

اوس د ګاډردعرضي مقطعې په ګينه خوا کې بار واردوو اود مقطعې ښې خوا ګورو(۳.b۵ شکل) يعنې د z فاصله په انتروا ل $b \leq z \leq l$ کې واقع کيږي:

$$\sum M_{I-I} = R_B \times b = \frac{(l-z)}{l} \times b$$

که: $z = b;\ M_{I-I} = \frac{(b-b)}{l} \times b = \frac{ab}{l}$

که: $z = l;\ M_{I-I} = \frac{(l-l)}{l} \times l = 0$

د $M_{I-I}$کوړوالي مومنت د ددو لاس ته راغلو قيمتونو له مخې دياګرام رسموو(۳.d۵ شکل).

اوس د عرضي مقطعې دواړو خواو ته د $M_{I-I}$کوړوالي مومنت د تاثيرکرښې له بله سره نښلوو(۳.e۵ شکل).که چيرې د عرضي مقطعې دواړو خواوو دتاثيرکرښو ته ادامه ورکړو،نو په پايله کې د $R_A$ او $R_B$ اتکاءګانولاندې د a اوb اردينات لاس ته راځي.

د دې لپاره چې په I-Iعرضي مقطع کې د$P=1$ بارپه پام نيولوسره د کوړوالي مومنت قيمت په لاس راوړو،نودباردموقعيت لاندې د $M_{I-I}$ کوړوالي مومنت تاثيرکرښې اردينات اندازه کوو(۳. e ۵ شکل).

د $M_{I-I}$کوړوالي مومنت د تاثير کرښه د ګاډرپه I-I عرضي مقطع کې د $M_{I-I}$کوړوالي مومنت د بدلون قانون ښيي اود ګاډرد نورعرضي مقطعوله پاره بايد د هغوي خپلې د تاثير کرښې رسم کړی شي.اود تاثير د کرښود رسمولو واحد متراو سانتی متردي.اوکوړوالي مومنت د تاثير کرښې د ساده ګاډرد I-Iپه عرضي مقطع کې د عرضي قوې د تاثيرد کرښې د رسمولو لپاره د عرضي په ښې خوا کې واقع کې د P=1 بار واردوو اودعرضي مقطعې ګينه خوا $0 \leq z \leq b$ ګورو:

$$Q_{I-I}=R_A=\frac{z}{l}$$

$$\mathrm{z}=0; \implies \mathrm{Q}_{\mathrm{I-I}}=\frac{0}{l}=0.$$

$$\mathrm{z}=\mathrm{b}; \implies \mathrm{Q}_{\mathrm{I-I}}=\frac{0b}{l}.$$

د دغو دوو لاس ته راغلو قيمتونو له مخې د عرضي قوې د تاثيرکرښه رسموو(۳.f۵ شکل).

اوس بارد عرضي مقطعې په ګينه خوا کې واقع کوو او د عرضي مقطعې ښې خو ا $0 \leq z \leq l$ ګورو:

$$Q_{I-I}=-R_B=\frac{(l-z)}{l}$$

$$\mathrm{z}=\mathrm{b}; \implies \mathrm{Q}_{\mathrm{I-I}}=-\frac{(l-b)}{l}=-\frac{a}{l}.$$

$$\mathrm{z}=l; \implies \mathrm{Q}_{\mathrm{I-I}}=-\frac{(l-l)}{l}=0.$$

د دغودوو لاس ته راغلوقيمتونو له مخې دعرضي قوې دتاثيركرښه رسمووو(۳.f۵ شكل).




۳.e,f ۵ شكل:دخوځنده بارلاندې دساده ګاډرعرضې قوې كه چيرې لاس ته راغلې د تاثيركرښې (۳.f۵ شكل) ته نورهم ادامه وركړو،نو د A او B نقطولاندې د ۱+ او ۱− اردينات لاس ته راځي. دعرضې قوو د تاثير كرښې اردينات واحد نه لري.

كه چيرې وغواړ چې دP=1 قوې لاندې دعرضې قوې قيمت ځومره دى، نو دعرضې قوې د تاثيرد كرښې اردينات اندازه كوو.

### ۳,۷ د كنسولي ګاډرپه I-I عرضي مقطع كې د عرضي قوې او د كوړوالي مومنت د تاثيركرښه

د كنسولي ګاډر په I-I عرضي مقطع كې دعرضي قوې اود كوړوالي مومنت د تاثيركرښې رسمول دساده ګاډرپه ځير ورته ترسره كيږي.

مګرد دې ډول ګاډر له پاره د z کيفي $(k+l) \geq z \geq 0$ انتروال فاصلې په پام کې نيول کيږي.

اوس د ګاډرد II-II عرضي مقطعې(۳-b۵ شکل) له پاره،چې دګاډر د ازادي څوکې څخه دC په فاصله کې واقع ده د عرضي قوې او د کوږوالي مومنت دتاثيرکرښي رسموو.

د P=1 باردعرضي مقطعې په ښي خواکې واقع کوواود دغه مقطعې ګينه خوا ګورو.څرنګه چې د دغې مقطعې په ګينه خوا کې هيڅ بار شتون نه لري،نوځکه :

$$M_{II} = 0; \text{ او } Q_{II} = 0$$




۳. a,b,c۵ شکل:دعرضي قوې اود کوږوالي مومنت دتاثيرکرښه د دغې عرضي مقطعې په ښي خواکې د عرضي قوې او کوږوالي مومنت د تاثيرکرښي د اساس کرښې سره منطبقې دي (۳.e,f ۵ شکل).

اوس P=1 بارد IIعرضي مقطعې په ګينه $c \geq z \geq 0$ خوا کې واقع کوو اود دغه مقطعې ښي خواګورو:

$$M_{II} = -P \times z = -1 \times z$$

$$z = 0;\ M_{II} = 0$$

$$z = c;\ M_{II} = -c$$

د $M_{II}$ کوږوالي مومنت دتاثيرکرښه په (۳.e۵ شکل) کې کتلی شو.

همدارنګه $Q_{II} = -1 = const$.

د $Q_{II}$ عرضي قوې د تاثيرکرښه په (۲.f۵ شکل)کې کتلی شو.




۳.e,f ۵ شکل :ديورواحدقوې تراغيزلاندې ګاډر

## ۳,۸ دسختې اتکاء کنسولي ګاډرلپاره د دننه قوو دتاثير کرښې

**الف.**د سختې اتکاء(۳.a ۶ شکل) $R_A$ عکس العمل او $M_A$ کوږوالي مومنت د تاثيرکرښې رسمولولپاره لاندينې معادلې کاروو:

$$\sum F_y = 0;\ -P + R_A = 0 \ \Rightarrow\ R_A = P$$

$$R_A = P(const)$$

$$\sum \mathrm{M_A} = 0;\ -P \times z + M_A = 0$$

$$M_A = p \times z = 1 \times z$$

د z فاصله يوه کيفي فاصله ده اود $0 \leq z \leq l$ انتټروال کې واقع ده.

که چيرې: $z = 0 \ \Rightarrow\ M_A = 0.$

اوکه چيرې: $z = l \ \Rightarrow\ M_A = l.$

د دغو دواړو لاسته راغلو قيمتونوله مخې د تاثيرکرښه (۳.c۶ شکل) رسمو.

**ب.** په I-I عرضي مقطع کې کوړوالي مومنت $M_I$ او د عرضي قوې $Q_I$ دتاثيرکرښې رسمول.

په I-I عرضي مقطع کې کوړوالي مومنت$M_I$ اوعرضي قوې$Q_I$ د تاثيرکرښې رسمولو له پاره د $P = 1$ بار د I-Iعرضي مقطعې په ښې (۳.d۶ شکل) خوا کې واقع کوواو د مقطعې ګينه خوا ګورو،ليدل کيږي ،چې دې برخې ته هيڅ قوه متوجه نه ده،نوځکه ليکوچې:

$$M_I = 0 \text{ او } Q_I = 0$$

د پورتنيوقيمتونو نه څرګنديږي،چې د هغوي د تاثيرکرښې د اساس د کرښې سره منطبقې رسميږي(۳.e۶ شکل).

د $P = 1$ بارد دغه عرضي مقطعې په ګينه خواکې واقع کوواو د مقطعې(۳.d۶ شکل) ښې خواګورو:

$$M_\mathrm{I} = -\,P \times z = -z$$




شکل ۳.d,e,f۶: ديوواحدبارلاندې کنسولي ګاډر

Z فاصله يوه کيفي فاصله ده اوپه $0 \leq z \leq c$ انتروال کې واقع ده.

که چيرې: $z = 0 \;\Rightarrow\; M_I = 0.$

اوکه چيرې: $z = c \;\Rightarrow\; M_I = -c.$

اودعرضي قوې قيمت په لاندې ډول لاسته راځي:

$$Q_I = -P = -1(const)$$

د دغودواړو لاسته راغلو قيمتونو له مخې د تاثيرکرښه رسموو (۳.f۶ شکل).

## ۳،۹ په غوټوکې دانتقالي بارله امله دتاثيرکرښې

د دې موخې له پاره يو جوړښت چې دځو عرضاني اوعمودي ګاډرونو څخه جوړشوی دی ګورو.

په تيروبحثونوکې مو وکتل چې په ګاډرونو(۳.a۷ شکل) کې دعرضي قوو اود کوړ.والي مومنت د تاثيردکرښودرسمولو له پاره د m-nپانيل په منځ کې د P=1خوځند بارواقع کوو او د I-Iعرضي مقطع هم په همدې انتروال کې په پام کې نيسو(۳.d,e۸) شکلونه.




۳.a,b,c۷ شکل:پل ډوله ګاډر

دعرضي قوې $Q_I$ اودکوږوالي مومنت $M_I$ د تاثيرکرښې هم دساده ګاډردعرضي قوې اودکوږوالي مومنت دتاثيردکرښوپه څيررسمولی شو. مګرد mغوټې د تاثيرد کرښې په ګينه خواکې يوه نقطه په نښه کوواو همدارنګه د nغوټې له مخې دتاثيردکرښې په ښي خواکې يوه نقطه په نښه کوواودغه دواړه نقطې د مستقيمې کرښې په ذريعه نښلوو. د عرضي قوې اوکوږوالي مومنت د تاثيرپه دغه ګرافونوکې تشکيل شوې کرښې دانتقالي کرښوپه نوم سره يادوي.




۳. ۸d,e شکل: دپل ډوله ګاډردکوږوالي مومنت اوعرضي قوې دتاثيرکرښې

## ۳,۱۰ دتاثيردکرښوپه مرسته ددننه عواملويا قووټاکنه

**الف.** دمتمرکزوقووتاثير:د دې مطلب د روښانه کولولپاره يو ګاډردخو

متمرکزو قووتراغيزلاندي نيسواو ددې قوو له تاثيره د قوو $P_3$ او $P_2$،$P_1$
د ازاد پرنسيپ پر بنسټ د $M_I$ کوږوالي مومنت په لاندې ډول پيدا کوو:

$$\sum P \times h \times = M_I$$

$$M_I = -P_1 \times h_1 + P_2 \times h_2 + P_3 \times h_3$$

د $M_I$ کوږوالي مومنت اردينات واحد $N.m$دی. په همدې ډول ورته عرضي قوه $Q_I$ هم پيداکولی شو:

$$Q_I = \sum P \times h^{/}$$

$$Q_I = P_1 \times h_1^{/} + P_2 \times h_2^{/} + P_3 \times h_3^{/}$$

دڅومتمرکزو بارونو له تاثيره د دننه عواملو(اتکاء يزعکس العملونه عرضي قوې او دکوږوالي مومنتونه) د ټاکنې له پاره دهغوقوو اودهغو سره ورته ارديناتودضربولودالجبري مجموعې په څيرپه لاس راوړلی شو.

**ب- دمتمرکزمومنت m له تاثيره د دننه عواملو پيدا کول:** ددې له پاره دتاثيرکرښې په ګراف کې د افقي محوراومايلې کرښې ترمنځ د زاويې تانجنت د همدې متمرکزمومنت m سره ضربوو: $S = m \times \tan\alpha$

**ج. د ويشلي منظم بارله تاثيره:** د ساده ګاډر لپاره د $Q_I$ او $M_I$ تاثير کرښې رسموو(a,b,c.۳۹ شکلونه).

اټکلوو،چې ويشلی منظم بار q دګاډرپه يوه برخه (منځ)کې واقع دی.

د دې بار د موقعيت په پام کې نيولو سره د $Q_I$ او $M_1$ د تاثيرد کرښو

مساحتونه $\omega_1$ او $\omega_2$ له مخې په نښه کوو.دA اتکاء څخه د zپه فاصله

سره د ګاډرڅخه د dzیوه ډیره کوچنۍ برخه په پام کې نیسو اوپه هغې کې منظم ویشلي بارپه $(q \times dz)$ اړوو(بدلوو).د دې بار له اثره د کوږوالي مومنت ډیرکوچنی قیمت$dM_I$ په لاندې ډول لاسته راوړو:

$$dM_I = q \times dz \times h_z$$

د دغه معادلې د انتګرالولوپه پایله کې د$M_\mathrm{I}$ کوږوالي مومنت په لاس راځي:

$$\mathrm{M_I} = \int_c^d q\,.dz.h_z = q\int_c^d h_z\,.dz$$

څرنګه چې په دغه پورتنۍ رابطه کې$\int_c^d h_z\,.dz$ رابطه د ω مساحت سره برابره ده،نوځکه:

$$\mathrm{M_I} = q \times \omega$$

په همدې ډول د I-Iعرضي قوې $Q_\mathrm{I}$قیمت د مساحتونو د مجموعې اود ویشلي منظم بارد ضرب حاصل څخه په لاس راوړو:

$$Q_\mathrm{I} = q \times (\omega_1 + \omega_2)$$




شکلونه ۳.a,b,c۹

په پايله کې ويلی شو،چې ويشلي بارله اثره د کوړوالي مومنت قيمت $M_{\mathrm{I}}$ د ويشلي منظم باراومساحت ω د ضرب حاصل نه لاسته راځي اود ويشلي بارله اثره دعرضي قوې قيمت$\mathrm{Q_I}$ د ويشلي باراودمساحتونو د مجموعې د ضرب حا صل نه لاسته راځي.

## ۳ ـ ۱۱ په يوجوړښت کې دغيرګټورموقعيت ټاکنه

دهغه خوځنده بارموقعيت چې ديوجوړښت(۳.b۱۰شکل)له پاسه اغيزه کوي اود هغه په شتون کې دننه اعظمي قوه منځ ته راځي د غيرګټوريا خطرناکه بارپه نوم سره ياديږي.

له نه وروسته دکوړوالي مومنت ډيرلوړقيمت $\mathrm{M_{max}}$ ،دعرضي قوې

ډیرلوړ قیمت $N_{\max}$ ا ودنارملي قوې ډیرلوړقیمت $\mathrm{Q}_{\max}$ ا وهمدارنګه دکوړ.والي مومنت ډیرتیټ قیمت $\mathrm{M}_{min}$ ،دعرضي قوې ډیر تیټ قیمت $\mathrm{Q}_{\min}$ اودنارملي قوې ډیرتیټ قیمت $\mathrm{N}_{\min}$په نښه کوو.

درې لاندیني حالتونه ګورو:

**۱. د جوړښت له پاسه د خوځنده باراغیزه:**خطرناکه بارهغه بارته ویل کیږي،چې د اردینات د ډیرلوړقیمت لاندې واقع وي.که چیرې د بار عد دي قیمت د دې اردینات سره ضرب کړو،نو د دننه عواملوغوښتل شوی قیمت په لاس راځي:

$$\mathrm{M}_{\max} = P \times h_{max}$$

اویا:

$$\mathrm{M}_{min} = P \times h_{min}$$

**۲.د جوړښت له پاسه د څوخوځنده بارونو اغیزه:** د دننه عواملو

لکه د $\mathrm{S}_{\substack{\max \\ \min}}$ لاسته راوړلو له پاره مجموعي قیمت $\sum P.h$ په پام کې نیسو:

$$\mathrm{S}_{\substack{\max \\ \min}} = \sum\nolimits_{min}^{max} P \times h$$

د دننه ډیرې لوي قوې $S_{\max}$ د قیمت دلاسته راوړلوله پاره د تاثیرکرښې دمثبت اردینات له پاسه اود ډیرې کوچنۍ قوې د قیمت د لاسته راوړلو له پاره د تاثیرکرښې(b.۲ ۱۰شکل) د اردینات منفي قیمت له پاسه خوځنده بارواقع کوو،دمنفي قوې دلاسته راوړولپاره دتاثیرکرښې د منفي اردینات له پاسه واقع کوو.

څرنګه چې $m_1 n_1 > mn$ څخه،نوځکه د (1) حالت د کوړوالي مومنت د ډیرلوړقیمت $M_I^{max}$ لپاره نظر (2 ) ډیرخطرناکه دی. او د حالت د $M_I^{min}$ له پاره خطرناکه حالت دی.

دعرضي قوې د ډیرلوړقیمت $Q_I^{max}$ دټاکنې لپاره (1) حالت خطر ناکه دی اودعرضي قوې $Q_I^{min}$ لپاره(2) حالت ډیر خطرناکه دی. کله،کله د ګاډر په ځینوبرخوکې چې دویشلي بارلاندې واقع کیږي د تاثیرکرښې په ګراف کې همهاله مثبت ا و منفي اردینات منځته راځي

(۱۰,۳ شکل).




۱۰,۳ شکل:دکنسولي لرونکی ساده ګاډر

په هغه حالت کې،کله چې د بهرنی بارله اثره د دننه عواملو د تاثیر کرښې ګراف مثلث ډوله وي (۱۱,۳ شکل) نود دننه عواملود ټاکنې له

پاره لاندیني فورمولونه کارول کیږي:

$$\sum F_{l.s} + P_{cret} > \sum P\frac{a}{l}$$

اويا: $\sum F_{l.s} < \sum P\frac{a}{l}$




۱۱,۳ شکل:دبار لاندې ميله

## ۳,۱۲ ديوجوړښت له پاسه د منظم ويشلي باراغيزه

دا چې د منظم ويشلي بارله اثره د دننه عواملود تاثيرکرښه کرښه د منظم ويشلي بار$q$ او د تاثير کرښې دمساحت $\omega$ د ضرب له حاصل څخه په لاس راځي : $S = q \times \omega$داچې دمنظم ويشلي بار $q = const$ قيمت ثابت دی،نوځکه د دننه عوامل ډيرلوړقيمت هغه مهال په لاس راځي چې منظم ويشلي بار(۳,۱۲ شکل)د تاثيرپه ټوله کرښه باندېواقع شي




۱۲,۳ شکل:دويشلي بار لاندې ميله

نو په دې مهال د کوږواولي مومنت$M^{\mathrm{I}}_{\max}$ د ټاکنې له پاره د خوځنده

بار(4) حالت او د $M^{I}_{min}$ لپاره د خوځنده بار(2) حالت خطرناکه دی.
دعرضي قوې د ډير لوړقيمت $Q^{I}_{max}$ د ټاکني لپا ره (3)حالت او د
عرضي قوې د ډيرټيټ قيمت $Q^{I}_{min}$ دټاکني لپاره د (4)حالت خطرناکه
دی.




۱۳,۳ شکل:دويشلي بارلاندې ميله

### ۳,۱۳ زياتيدواوکميدوميتود

د تاثيرکرښوپه مبحث کې مو وخيرل،چې د تاثيردکرښې ډيرلوړ قيمت د خوځنده متمرکزيا ويشلي بارلاندې واقع دی.يعنې که (۱۴,۳ شکل)ته وکتل شي،نو کتل کيږي چې د لومړي حالت لپاره د تاثيرکرښې ډيرلوړ قيمت د$F_1$ قوې لاندې واقع دی.

که خوځنده بارونوته د ګاډرله پاسه حرکت ورکړو،يعنې دوېم حالت او دريم حالت،نوپه دې حالتونوکې د y فاصله هم بدلون مومي او $y'$ حالت

ځانته غوره کوي.اودګاډرپه خوکه کې د $F_5$بارهم پرله پسې بدلون کوي.




۳,۱۴ شکل: دبهرنيوبارونو لاندې ګاډر

له (۱۴,۳) شکل نه کتل کيږي،چې د دواړوفاصلو توپير $\Delta y$ دی، يعنې $\Delta y = y - y'$. د $F_1$ قوه چې د حرکت په بهيرکې په بيلا بيلو فاصلوکې يوکارترسره کوي په لاندې توګه ترلاس کيږي:

$$\Delta f = F_1 \times y - F_1 \times y' \ (a)$$

اويا:

$$\Delta f = F_1(y - y') = F_1 \times \Delta y \ (b)$$

همدارنګه د تاثيرپه کرښه کې ميلان په ټولوبرخوکې يو ډول دی،
نوځکه:

$$\frac{\Delta y}{x_1} = \frac{m_1}{1} \quad (c)$$

له دې ځايه په لاس راځي چې:

$$\Delta y = m_1 \times x_1 \ (d)$$

نوځکه ليکوچې:

$$\Delta f = F_1 . m_1 . x_1 \ (e)$$

د پورتنيومعادلوپربنسټ ليکوچې[5:288]:

$$\Delta f = F_5 . m_2 . x_5 \ (e)$$

**۳ . ۱مثال**

د پل دګاډرونوله پاسه چې په ۱۵,۳ شکل کې ښودل شوي دي دځرخ په ذريعه بارونوحرکت کوي.دزياتيدواوکميدوميتود وکاروئ اود Bپه نقطه کې د مومنت ډيرلوي قيمت پيداکړئ.دB نقطې ځخه دتاثيرکرښه په(۳. b ۱۵) شکل کې ښودل شوې ده.






۳,۱۵ شکل:دبهرنیوبارونولاندې ګاډر

**حل**

په لومړي حالت کې 10 KN بارد B نقطې څخه(۳. ۱۵bشکل) د بنې

خوا نه ګينې خوا ته حرکت کوي.دلسوفټوپه فاصله سره د نقطې ځخه د بارپه بدليدوسره دټولوقوولپاره مومنتونه وشميرئ دويم حالت ته وګورئ اولاندينی فورمول وکاروئ دمومنت دزياتيدولپاره:

$$\Delta f = F_1 . m_1 . \mathrm{x}_1$$

$$\text{Increase in moment} = \Delta f =$$

$$= (20 + 20 + 30)\left(\frac{1}{4}\right) \times 10 =$$

$$= \ 250\text{KN. ft(load 2,3,4 and 5)}$$

دمومنت دکميدولپاره:

$$\text{Decrease in moment} = \Delta f =$$

$$= 10\left(-\frac{3}{4}\right) \times 10 = -75\ \text{KN. ft(load 1)}$$

په سوچه بدليدنه کې: 75 KN.ft

له دې نه وروسته دوېم حالت نظرلومړی حالت ته ډيربحرانی دی.

بارته بياهم د3 حالت په مطابق د B نقطې ځخه ښې خوا ته په 5 ft حرکت ورکوواوپه دې بدليدوکې مومنت پيداکوو:

$$\text{Increase in moment} = \Delta f =$$

$$= (20 + 30 + 30)\left(\frac{1}{4}\right) \times 5 =$$

$$= \ 100\ \text{KN. ft(load 3,4 and 5)}$$

دمومنت دکميدولپاره:

$$\text{Decrease in moment} = \Delta f =$$

$$= 10 + 20\left(-\frac{3}{4}\right) \times 5 =$$

$$= -112.5\ \text{KN.ft(load 2 and 3)}$$

په سوچه بدليدنه کې: -112.5 KN.ft

له دې نه وروسته دوېم حالت نظردريم حالت ته ډيربحراني دی.دپانيل په Bنقطه کې ډيرزيات مومنت ټاکو.هريوبارد تاثيرکرښې په اردينات کې ضربوو:

$$\sum M_B = 10 \times 7.5 + 20 \times 15 + 20 \times 13.75 +$$

$$+30 \times 11.25 + 30 \times 10 = 1287.5 KN.ft$$

**دويم حالت.**په لومړي حالت کې 30 KN بارد B نقطې څخه د ښې

خوا نه ګينې خواته حرکت کوي.د 5 ft په فاصله کې د بارد حرکت څخه مومنت پيداکړئ:

$$\text{Increase in moment} = \Delta f =$$

$$= 80\left(\frac{1}{4}\right) \times 5 = 100\ \text{KN.ft(load 4,3,2 and}$$

د مومنت د کميدولپاره:

$$\text{Decrease in moment} = \Delta f =$$

$$= 30\left(-\frac{3}{4}\right) \times 5 = -112.5\text{KN. ft(load 5)}$$

په سوچه بدلیدنه کې: 12.5 KN.ft-له دې نه وروسته لومړی حالت نظردویم حالت ډیربحرانی دی.په 2 نقطه کې مومنت پیداکړئ:

$$\sum M_B = 30 \times 15 + 30 \times 13.75 + 20 \times 11.25 + S$$

$$+20 \times 10 + 10 \times 7.5 = 1362.5\, KN.ft > 1287.5$$

*[5:288-291 ]*

**پوښتنې**

۳,۱ **پوښتنه.** دترسیم شوي ګاډر(۳,۱۶شکل)په بیلا بیلوعرضي مقطعو

کې عرضی او دکوړوالي مومنتونه پیدا اودیاګرامونه یې رسم کړئ.




۱۶,۳ شکل:دبهرني بارلاندې ګاډر

۳,۲ **پوښتنه.** دترسیم شوي ګاډر(۳,۱۷ شکل)په بیلا بیلوعرضي مقطعو

کې عرضی او دکوړوالي مومنتونه پیدااودیاګرامونه یې رسم کړئ.




۳,۱۷ شکل:دبهرني بارلاندې ګاډر

**۳,۳ پوښتنه.** دترسيم شوي ګاډر(۳,۱۸شکل)په بيلا بيلوعرضي مقطعو کې عرضى او دکوږوالي مومنتونه پيدااوډياګرامونه يې رسم کړئ.




۳,۱۸شکل:دبهرني بارلاندې ګاډر

# څلورم څپرکی

## ستاتيکي ټاکلي وايه لرونکي ګاډرونه

### ۴,۱د ستاتيکي ټاکلو د وايه لرونکو ګاډرونو د جوړښت بنسټيز پرنسيپ

دستاتيکي ټاکلی نه بدلون موندونکي سيستم ،چې دخووايه يزو ګاډرونو څخه،چې هغوی په خپلوکې دغوټوپه ذريعه نښلول شوي دي،دستاتيکي ټاکلي وايه ډوله او ياغوټې لرونکي وايه ډوله ګاډرونو په نوم سره ياديږي.

ډيرځلې څو وايه لرونکي ګاډرونه نظريو وايه يزګاډرته ګټوردی، چې د دې مطلب دروښانه کولوله پاره دغه مثال ګورو.اټکلوو،چې دAB او BC دوه ګاونډي ګاډرونه،چې د هريو يې لس متره اوږدوالی لري د هغوي د نښلولو له پاره غوښتنه شوي ده:که چيرې د يو له پاسه $q = 2\ t/m$ منظم ويشلي باروي،نو د هريو ګاډرله پاره په ځانګړي ډول( ۴. a۱شکل)کوږوالي مومنت قيمت په منځنۍ برخه کې دی :

$$M_0 = \frac{ql^2}{8} = 2\frac{(10)^2}{8} = 25\ t.m$$




a,b.۴ ۱ شکل: دوه وايه ډوله ګاډر

اوس دواړه ګاډرونه ديوې غوتې په ذريعه نښلوواويا دواړه وايې سره نښلوو(c.۴ ۱ شکل)اود دې ګاډرپه څوعرضي مقطعو کې د کوږوالي مومنتونه شميرو:

$$M_1 = q\frac{ql^2}{8} = \frac{(8)^2}{8} = 16\ t.m$$

او:

$$M_D = 0$$

او همدارنګه:

$$M_B = -\frac{ql_1}{2}a - \frac{qa^2}{2} = -\frac{2 \times 8}{2} \times 2 - 2\frac{2^2}{2} =$$

$$= -16 - 4 = -20\ t.m$$

$$M_2 = -\frac{q_2^2}{8} - \frac{M_B}{2} = \frac{2(10)^2}{8} - \frac{20}{2} = 15\ t.m$$




c,d.۴ ۱ شکل:دويشلي بارلاندې مفصلي ګاډر

د(۴.b,d ۱)شکلونو څخه کتل کيږي،چې د کوږوالي مومنت قيمت په دوه وايه ډوله ګاډرکې لږدی،نظريووايه ډوله ګادرته(۴.b ۱شکل).

په همدې بنسټ دوه وايه ډوله ګاډرونه نظريو وايه يزګاډرته هم ډير اقتصادي دي.

همدارنګه نه شليدونکي(غيرمنقطع)ټاکلي ستاتيکي اودکوږوالي مومنت کمونکي دي اودغه لانديني ګټورتوب لري:

۱. دوه وايه ډوله ګاډرد لنډوګاډرونو لرونکي دي اوپه کارخانوکې يې جوړول اومنتاژکاري ډيره اسانه اومناسبه ده.

۲. د ننه عوامل په کې ټاکلي ستاتيکي اود اتکاءګانوپه کيناستلو(نشت) پورې اړه نه لري.

په پايله کې دغوټوڅووايه ګاډرونه رواجي ډيرکارول کيږي.

غوټې لرونکی ګاډرکيدای شي دنه شليدونکی(غيرمنقطع)له لارې لاسه ته راشي(۴,۲شکل)،يعنې دغه رنګه ګاډرنا ټاکلی ستاتيکي اودڅوغوټو لرونکی دی.

د دې ډول ګاډرونود نا ټاکلي توب حد د لانديني رابطې څخه په لاس راځي:

$$n = S_0 - 3 \quad (3-1)$$

په دې رابطه کې:

$n$ – د اضافي نا معلومو شميريا د نا ټاکلي توب حد. $S_0$ – د اتکاءيزو ميلو شمير.

3 . د قوود سطحي سيستم لپاره دستاتيک درې تعادلي معادلې.




۴,۲ شکل:دوه وایه ډوله ګاډر

د (3-1) فورمول د هغه ګاډرلّه پاره چې په (۴. a۱)شکل کې ښودل شوی دی کارول ګیږي،په دې ګاډرکې داتکاءیزومیلوشمیر 7 میلې دی، نوځکه په لاس راوړوچې:

$$n = 7 - 3 = 4$$

د ګاډرد میله یز سیستم په وایو کې هره یوه نښلول شوې غوټه دنه شلیدونکي ګاډرد اتکاء له پاسه یوه اضافي ستاتیکي معادله ورکوي:

$$\sum_{L.S} M = 0;$$

او:

$$\sum_{R.S} M = 0$$

له دې ځایه څرګندیږي،چې په غوټه کې دکوږوالي مومنت قیمت صفر

دی،نوځکه بايدد دغه رنګه ګاډرونودستاتيکي ټاکلي توب لپاره په سيستم کې 4 ميلې ځای پرځای شي(۴-۲ شکل).په ګاډرکې کې غوټې بايد داسي ځای پرځای شي،ترڅوچې ميلې دګادرپه ټولوبرخوکې هندسي شکل نه بدلون موندونکی ستاتيکي وي.

د ځووايه ډوله ګاډرد ناټاکلي توب دمئسلې دحل لپاره اويا د هغه څخه




a,b.۴ ۳شکل: ځوغوټې يز(مفصلي) ګاډر

ګټې اخيستنې د فعاليت د تصورد روښانه کولو په موخه دپوړيزې شيما څخه کاراخلو دغه شکل ته وګورئ (۴-۳ شکل).

## ۴-۲ په ټاکلي ستاتيکي ځووايه يزوګاډرونوکې د ثابت بار له اغيز څخه ددننه قوو ټاکنه

د دغه ډول ځو وايه يزو ګاډرونو شميرنه د پوړيزې(طبقه يزې) شيما له مخې کيږي،چې د شميرنې ترتيب يې په لانديني مثال کې کتلی شو.

**۴,۱مثال**

د ABCDEF څو وايه يزګاډرد P=5 tons متمركزباراو د q=2 t/m ويشلي منظم بار تراغيزلاندې واقع دی،د دې ګاډر(۳a.۴ شکل) په بيلا بيلوعرضي مقطعوکې دعرضی قوو او د کوږوالي مومنتونو قيمتونه وشميرئ اوديګرامونه يې په جداګانه توګه اوهم په عمومي ډول رسم کړئ.

**حل**

۱. دګاډرپوړيزه شيماجوړوو(b.۴ ۳شکل) يعنې څوړندګاډرله پاسه بيا لاندې انتقالي ګاډراوپه لاندينۍ برخه کې اساسي ګاډرترتيبوو.

۲. د BC ګاډرشيمرنه د دې ګاډرد اتکاءيزوعکس العملونونه پيلوو:

$$R_B = R_C = \frac{ql^2}{2} = \frac{2.4}{2} = 4\ tons$$

$$M_{max} = \frac{q_{l_2}^2}{2} = \frac{2.4}{8} = 4\ tons$$

۳. اوس د AB ګاډرشميرنه ترسره کوو:

$$M_B = 0.$$

$$R_B = -4 \times l_1 = -4 \times 3 = -12\ t.m$$

$$Q_A = Q_B = 4\ tons$$

۴.له دې وروسته د CF ستنې شميرنه ترسره کوو:

$$M_C = 0.$$

$$M_D = -4 \times a = -4 \times 15 = -6\ t.m.$$

$$M_F = 0.$$

$$Q_E = Q_F = P = 5\ tons.$$

دعرضي قوو Q دشميرنې لپاره لومړی د $R_D$ او $R_D$ اتکاءيزعکس العملونه پيداکوو:

$$\sum M_E = 0;\ -4(a + l_3) + R_D \times l_3 +$$

$$+P \times b = 0$$






۴,۳ شکل: غیرمنقطع ګاډر

$$\sum M_D = 3.4\ t.m$$

دعرضي قوو اودکوږوالي مومنتونود قیمتونود پیداکولونه وروسته په یوټاکلي مقیاس کې د عرضي قوواود کوږوالي مومنتونو لومړی دهریو ګاډر له پاره اوبیا په ټوله کې عمومی دیاګرامونه رسموو(۴,۳ شکل).




۴,۳ شکل: دخارجي بارونولاندې ځووایه یزګاډر

### ۴,۳ د ټاکلی ستاتيکي څووايه يزګاډرونو د دننه قوود تاثير کرښې

د ټاکلي ستاتيکي څووايه يزمفصلي ګاډرد دننه قوود تاثيرد کرښو درسمولولپاره لومړی د ګاډرپوړيزه ياطبقه يزه شيما جوړو او بيا د ساده انتقالي ګاډرد $R_D$ عکس العمل له پاره د تاثيرکرښه رسمو(۴c.۴شکل).




۴,۳ شکل:څووايه يزټاکلي ستاتيکي ګاډر

په اتکاءگانوکې د $M_I$ او $Q_I$ اردينات دواړه صفردي،نوځکه په غوټوکي اردينات دصفري نقطوسره نښلووار په ټوله کې د $Q_I$ اود $M_I$ تاثيرکرښې په لاس راځي.

## پوښتنې

**۴,۱ پوښتنه:** ځووايه ډوله ګاډرددوومتمرکزاويوويشلي بارلاندې واقع دی(۴,۴ شکل) اتکاءيزعکس العملونه يې پيداکړئ.




۴,۴ شکل:ځووايه ډوله ګاډر

**۴,۲ پوښتنه**

ځووايه ډوله ګاډرد دوومتمرکزاويوويشلي بارلاندې واقع دی(۴,۵ شکل) اتکاءيزعکس العملونه يې پيداکړئ.




۴,۵ شکل:ځووايه ډوله ګاډر

**۴,۵ پوښتنه**

ځو وايه ډوله ګاډر د دوومتمرکزاو يو ويشلي بار لاندې واقع دی

(۴,۶ شکل)اتکاءيز عکس العملونه يې پيداکړئ.




۴,۶ شکل:څو وايه ډوله ګاډر

# پنځم څپرکی

## د دريوغوټوکمانونه

### ۵-۱ درې غوټيزسيستم

د دريوغوټولرونکی سيستم هغه دی چې دوه ديسکونه (descs) په خپلو دکې ديوې اويا د دووغوټوپه ذريعه له ځمکې سره نښلول شوي وي،نو ځکه ځمکه هم د درېم ديسک جوړښت په څيرپه پام کې نيول کيږي او دا يودرې غوټيزشکل(۵ . ۱ شکل)ځانته غوره کوي،چې درې ديسکونه په خپلوکې ددريوغوټوسره نښلول شوي وي اودمستقيمې کرښې په امتداد




۵,۱ شکل:ددريوديسکونوغوټه يزسيست نه وي واقع شوي،همدغه ډول سيستم هندسي غيرمتغيره يا نه بدلون موندونکي سيستم دی.

کله چې د I او II ديسکونو ميلومحورونه منحني وي،نود دغه ډول ديسکونوسيستم ته (a,d.۵ ۲شکل) کمان (Arch) ويلي شو.اوکه چيري دميلو محورونه يې مستقيمې کرښې وي،نودغه سيستم(b,c.۵ ۲شکل)




۲شکل:درې غوټې يزسيستم [5:250] a,b,c.۵

فرم ويل کيږي.

د درې غوټېزکماني عنصرپه عرضي مقطعو کې دکوږوالي مومنتونو اوعرضي قوو قيمتونه نظرهغو قيمتونوته چې په وايه دوله ګاډرونوکې منځ ته راځي کوچني دي،نوځکه په ستروخ وايزوګاډري نښتنوکې درې

غوټيز کمانونه کارول کيږي اونسبت ګاډري ته ډيراقتصادي دي.

## ۵,۲ په درې غوټيزکمان کې د اتکاءيزوعکس العملونو ټاکنه

د دري غوټيزکمان(۵-۳شکل) په دواړو اتکاء ګانوکې د بهرني بار له اغيزڅخه دوه دوه اتکاءيزعکس العملونه $H_A$، $V_A$،$H_B$ او $V_B$ منځته راځي.داچې افقي عکس العمل $H = 0$ دنوځکه دريې غوټي کمان ته د قووسيستم هم ويل کيږي.

په دغه ډول سيستم کې د اتکاءيزوعکس العملونود پيدا کولوله پاره لاندينۍ معادلې کاروو:

$$\sum M_A = 0; \sum M_B = 0; \sum F_z = 0;$$

او څلورمه معادلې له دې اصل له مخې چې په غوټه کې د کوږوالي مومنت صفردي کارولی شو:

$$\sum\nolimits_{L.S}^{M} C = 0; \sum\nolimits_{R.S}^{M} C = 0;$$




۵-۳ شکل:درې غوټيزکمان د متمرکزوبارونولاندې

د دې معادلودحل په پايله کې څلورمجهول قيمتونه پيدا کولی شو د ستاتيک تعادلي معادلې بايد داسې ترتيب شي،چې په هره يوه معادله

کې دوه دوه مجهول قیمتونه شامل وي:

$$1)\ \sum M_B = 0;\ V_A \times l - P_1(l-a) - P_2 \times c - P_3 \times b = 0;$$

$$2)\ \sum M_C = 0;\ V_A \times \frac{l}{2} - H_A \times h -$$

$$-P_2\left(\frac{l}{2} - a\right) = 0.$$

د ۱ معادلې څخه اود۲ معادلې څخه په لاس راوړو:

$$V_A = \frac{P_1(l-a) + P_2 \times c + P_3 \times b}{l}$$

$$H_A = \frac{V_A \frac{l}{2} - P_1(\frac{l}{2} - a)}{h}$$

همدارنګه:

$$3)\ \sum M_{\mathrm{A}} = 0;\ V_B \times l - P_1 \times a - P_2(l-c) -$$

$$-P_3(l-b) = 0;$$

$$4)\ \sum\nolimits_{R.S}^{M} C = 0;\ -V_B \times \frac{l}{2} + H_B \times h +$$

$$+P_2\left(\frac{l}{2} - a\right) + P_3\left(\frac{l}{2} - b\right) = 0.$$

له دې ځایه په لاس راوړوچې:

$$V_B = \frac{P_1 \times a + P_2 \times (l-c) + P_3 \times (l-b)}{l}$$

$$H_B = \frac{V_B \frac{l}{2} - P_3\left(\frac{l}{2} - b\right) - P_2(\frac{l}{2} - c)}{h}$$

د دغولاس ته راغلوقيمتونوکنترول په لاندې ډول کوو:

$$\sum F_z = 0;\ H_A - H_B = 0;$$

$$\sum F_y = 0;\ V_A + V_B - P_1 - P_2 - P_3 = 0;$$

## ۵. ۳ په درې غوټيزکمان کې د دننه قوو ټاکنه

په درې غوټيزکمان کې دننه عوامل عرضي قوه Qد کوږوالي مومنت M نارملي قوه N دي،چې د بهرنيو قوولـه اغيزڅخه د کمان په عرضي مقطعوکې(۵,۴ شکل) پيښيږي.




۵,۴ شکل:دبهرنيوقوولاندې درې غوټې يزکمان

د کمان په عرضي مقطعوکې د دننه عواملودپيژندني قواعد د ساده ګاډرپه څيردی.مګرپه فشارکې د نارملي قوې قيمت مثبت ګنل کيږي.

هغه محورونه چې دهغې له پاسه بهرنۍ قوې مرتيسم کيږي بايد داسې وي،چې د V محورعمود او U محورورباندې مماس وي او د هغوي مرتسيمونه د $\mathcal{U}$ او $\mathcal{V}$ له مخې ښودل کيږي.

د کمان په بيلا بيلوعرضي مقطعو کې دعرضي قوو او د کوږوالي مومنت د لاندينيو فورمولونوله مخې پيدا کوو:

$$Q = \sum_{L.S} V = -\sum_{R.S} V$$

$$N = \sum_{L.S} \mathcal{U} = -\sum_{R.S} \mathcal{V}$$

$$M = \sum_{L.S} M = -\sum_{R.S} M$$

د لاندينيو معادلو په مرسته د درې غوټيزکمان په بيلا بيلوعرضي مقطعوکې د نارملي قوو،عرضي قوواود کوږوالي مومنتونود ټاکنې له پاره کاروو:

$$Q = \sum_{L.S} V = V_A \times cos\varphi - H_A \times sin\varphi -$$

$$-P_{1_y} \times cos\varphi - P_{1_z} \times sin\varphi = 0$$

$$N = \sum_{L.S} \mathcal{U} = V_A \times \sin\varphi + H_A \times \cos\varphi -$$

$$-P_{1_y} \times \sin\varphi + P_{1_z} \times \cos\varphi = 0;$$

$$M = \sum_{L.S} M = V_A \times z - H_A \times y -$$

$$P_{1_y}(z - z_{p_1}) - P_{1_z}(y_k - y_{P_1}) = 0.$$

هرکله چې په درې غوټيزکمان باندې بهرني بارونه عمودي واقع شي (۵،۵ شکل)،نو په دې مهال کې افقي مرکبې صفر کيږي $P_z = 0$ او عمودي مرکبه $P_y = P$ کيږي اوپه ټوله کې افقي مرکبې يا ريکوس يو له بله سره برابريږي $H_A = H_B = H$ نوځکه د دننه عواملود پيداکولو له پاره لاندينۍ معادلې کاروو:

$$N = (V_A^{L.S} - \sum P)sin\varphi + H \times cos\varphi$$

$$Q = (V_A - \sum P)cos\varphi - H \times s\ in\varphi$$

$$M = V_A \times z - \sum_{L.S}^{P}(z - z_{P_i}) - H \times y$$

په پورتنيومعادلوکې د$\left(V_A \times z - \sum_{L.S}^{P}(z - z_{P_i})\right)$ د ساده ګاډر د عرضي قوې مفهوم څرګندوي.د پورتنيو قيمتونو په پام کې نيولوسره د کمان په بيلا بيلو عرضي مقطعوکې د نارملي قوو،عرضي قوواود کوږوالي مومنتونود ټاکنې له پاره دغه فورمولونه کارول کيږی:

$$N_k = Q_k^0 sin\varphi + H \times cos\varphi$$

$$Q_k = Q_k^0 cos\varphi - H \times sin\varphi$$

$$M_k = M_k^o - H \times y$$




۵,۵ شکل:دعمودي بهرنيوبارونولاندې کمان په دې معادلوکې :

$Q_k^0$- د کاډرې عرضي قوې قيمت دی.

$M_k^0$- دګاډري کوړوالي مومنت قيمت په نوم سره يادوي.

دپورتينومعادلوپه مرسته ددرې غوټيزکمان په بيلاعرضي مقطعوکې دننه عوامل پيدا کولی شواوپه يو ټاکلي مقياس کې يې خپل دياګرامونه رسمولی شو.

د $M = M_k^0 - H \times y$ رابطه په درې غوټې يز کمان کې د کوړوالي مومنت قيمت دکموالي قيمت نظرساده ګاډرته راښيي.

## ۵,۴ دخوځنده بارله اغيزڅخه ددرې غوټيزکمان شميرنه

الف.دکمان د اتکاءيزعکس العملونو دتاثير کرښې.د دې له پاره د کمان له پاسه د z په فاصله خوځنده بار P=1 واقع کوو او نسبت A او B نقطوته دمومنتي رابطوله مخې د تاثيرکرښې ترتيبوو:

$$\sum M_B = 0;\ V_A \times l - 1 \times (l - z)$$

$$\sum M_A = 0;\ -V_B \times l - 1 \times (l - z)$$

د لومړۍ معادلې څخه د $V_A$ قيمت پيداکوو:

$$V_A = \frac{1(l-1)}{l}\ 0 \le z \le l$$

$$V_B = \frac{z}{l}$$

د $V_A$ او $V_B$ د پيدا کولو له پاره معادلې د ساده ګاډرد اتکاء يزعکس العملونود معادلوسره سمون خوري،نوځکه د دوي(۵b,c.۵شکل)دتاثير کرښې هم يوله بله سره ورتوالی لري .

د افقي مرکبې د تاثيرکرښې د رسمولو لپاره لاندينۍ رابطه کاروو:

$$\sum_{L.S} M_c = 0;\ V_A \times l - 1(l_1 - z) - H \times h = 0$$

څرنګه چې $V_A \times l - 1(l_1 - z) = M_c^0$ رابطه نسبت $C$

غوټې ته د ګاډرد کوږوالي مومنت رابطه ده،نو ځکه:

$$H = \frac{M_c^0}{h}$$

د پورتني فورمول څخه کتل کيږي،چې د H د تاثير کرښه د ساده ګاډر د $M_c^0$ د تاثيرکرښې سره ورته ده او يوازنی توپيريې د 1/h قيمت په زياتوالي کې دی (۵شکل d.۵).کله چې $l_1 = l_2 = \frac{l}{2}$ وي،د C غوټې لاندې به يې اردينات $\frac{l}{4h}$ وي.

**ب** – دنارملي قوې$N$ ،عرضي قوې$Q$ او د کوږوالي مومنت $M$ د تاثير کرښې

## ۵,۵ د تاثيرد کرښې دصفرې نقطې ځای ټاکنه

دهرڅه نه د مخه دګرافيکي طريقه په مرسته دخوځنده بار$p = 1$ له اغيز څخه په غوښتل شوې عرضي مقطع k کې د کوږوالي مومنت عرضي قوې او نارملي قوې په دياګرامونوکې د صفرنقطې دځای ټاکو يا په بل عبارت د کوږوالي مومنت $M_k$ ،عرضي قوې $Q_k$،نارملي قوې $N_k$د تاثيردکرښود صفرې نقطود ځای د ټاکنې ارينات مطالعه کوو،چې دغه نقطې د A اوB د اتکاءګانودي.

د نوروصفري نقطود پيدا کولولپاره د $M_k$ ،$Q_k$ او $N_k$ دياګرامونه ګورو(۶شکل a.۵) اود $AFF_1$ او $BFF_1$ مثلثونوله کتلوڅخه په لاس




۵. ۶ شکل:دعمودي خوځنده بارلاندې کمان د تاثيرکرښې

راوړوچې:

$$tan \propto = \frac{FF_1}{AF_1} = \frac{FF_1}{z_m}$$




۶a.۵ شکل:دخوځند ه بارلاندې کمان

او همدارنګه :

$$tan\varphi = \frac{y_k}{z_k}$$

د دواړوله ورتوالي څخه په لاس راوړوچې:

$$\frac{FF_1}{z_m} = \frac{y_k}{z_k} \Longrightarrow FF_1 = \frac{z_m \times y_k}{z_k}$$

د $BFF_1$ مثلث څخه پيداکووچې:

$$tan\beta = \frac{h}{l_2} \text{ او } tan\beta = \frac{FF_1}{l - z_m}$$

اويا:

$$\frac{FF_1}{l - z_m} = \frac{h}{l_2} \Longrightarrow FF_1 = \frac{h \times (l - z_m)}{l_2}$$

اوس دواړه معادلې سره پرتله کوو:

$$\frac{z_m \times y_k}{z_k} = \frac{h \times (l - z_m)}{l_2}$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$z_m \times l_2 \times y_k = h \times (l - z_m) \times z_k =$$

$$z_m \times y_k \times l_2 = h \times l \times z_k - h \times z_m \times z_k$$

$$z_m \times y_k \times l_2 = z_k(h \times l - h \times z_m) = 0$$

$$z_m(y_k \times l_2) = z_k \times l \times h - z_k \times h \times z_m$$

$$z_m(y_k \times l_2 \times z_k \times h) = z_k \times l \times h$$

له دې فورمول څخه د فاصله پيداکوو:

$$z_m = \frac{z_k \times l \times h}{y_k \times l_2 \times h \times z_k} = \frac{h \times l \times z_k}{y_k \times l_2 \times z_k}$$

$$z_m = \frac{h \times l \times z_k}{y_k \times l_2 \times z_k}$$

د تشکيل شوې متوازی الضلاع څخه د$R_{\mathrm{A}}$ محصله پيدا کوواود K نقطې څخه يې تيروو او بيا د C نقطه د B اتکاءسره نښلووواو امتداد ورکوو،چې د دوي د يو ځای کيدو F نقطه په لاس راځي،چې په دې نقطه کې $p = 1$ او يا $F_{\mathrm{m}}$ واقع کيږي.

دکوړوالي مومنت دټاکنې لپاره دټولوقوودمومنتونوالجبري مجموعه نسبت k نقطې ته نيسو:

$$M_k = \sum_{L.S} M_k = R_A \times 0 = 0.$$

د $Q_k$ د تاثيرکربښې (۶b.۵شکل) درسمولو له پاره د $AFF_1$ اود $BFF_1$ مثلثونودورتوالي څخه په لاس راوړېچې:

$$tan\varphi_k = \frac{FF_1}{z_Q} \text{ او } tan\beta = \frac{FF_1}{l-z_Q}$$

اويا:

$$FF_1 = z_Q \times tan\varphi_k$$

$$FF_1 = (l - z_Q) \times tan\beta$$




۶b.۵ شکل:دخوځنده بارلاندې کمان

دغه دواړه پورتني فورمولونه سره پرتله کوو:

$$z_Q \times tan\varphi_k = tan\beta \times l - tan\beta \times z_Q$$

$$z_Q(tan\varphi_k + tan\beta) = tan\beta \times l$$

$$z_Q = \frac{tan\beta \times l}{tan\varphi_k + tan\beta}$$

د عرضي قووو $Q_k$ د ټاکنې له پاره د ټولو قوو د مرتسیمونو الجبري مجموعه نسبت k نقطې ته نیسو:

$$Q_k = \sum_{L.S} V = 0.$$

د نارملي قوې $N_k$ د ټاکنې له پاره د ټولو قوو دمرتسیمونو الجبري مجموعه نسبت U محورته نیسو:

$$N_k = \sum_{L.S} U = 0.$$

د $N_k$ تاثیر لپارد $FF_1B$ مثلث (۶c.۵ شکل)څخه پیدا کوو چې:

$$tan\beta = \frac{FF_1}{-z_N + l + l_2} \Rightarrow$$

$$FF_1 = tan\beta(-z_N + l + l_2)$$

$$ctan\varphi_k = \frac{FF_1}{z_N} \Rightarrow FF_1 = ctan\varphi_k \times z_N$$




۶c.۵ شکل:دخوځنده بارلاندې کمان

ځرنګه چې:

$$-tan\beta \times z_N + tan\beta \times l_1 = ctan\varphi_k \times z_N$$

$$z_N(tan\beta - ctan\varphi_k) = tan \times \beta \times l$$

$$z_N = \frac{tan \times \beta \times}{tan\beta - ctan\varphi_k}$$

**۶,۵ د تاثیرد کرښو د صفري نقطوپه مرسته ددننه عواملو د تاثیر**

**د کرښو ټاکنه**

**الف.** د درې غوټې یزکمان د k په نقطه کې د کوږوالي مومنت دتاثیر کرښه دساده ګاډرد ټولو کوږوالي مومنتونودتاثیردکرښودمجموعې او افقي مرکبې H ا و د هغې د اردینات ( $-y_k$) د ضرب حاصل څخه لاس ته راځي:

$$M_k = M_k^0 + H \times (-y_k)\ (a)$$

د درې غوټیزکمان د A غوټې لاندې د تاثیرکرښې د رسمولو له پاره ترهرڅه دمخه د $z_k$ په اندازه اردینات را بیلوواود صفرې کرښې سره سره یې نښلوواود C ترنقطې پورې ورته امتداد ورته کوچې په پایله کې دښې خوا دتاثیر لومړۍ کرښه جوړیږي.اوکه د k عرضي مقطعې لاندې کرښه د A نقطې سره ونښلوو،نود ګینې خوا د تاثیر کرښه ترې جوړیږي.د $M_k$ د تاثیر دویمه کرښه که د C غوټه د B د نقطې سره و نښلووپه لاس راځي(۵.a۷شکل).

پورتنۍ معادله دګاډرد تاثیر $Q_k^0$ اود $cos\varphi_k$ دضرب حاصل اودافقي مرکبې H اود $sin\varphi_k$ دضرب حاصل دالجبري مجموعې څخه عبارت ده.




د $Q_k$ دښي خوادI تاثيركرښي درسمولولپاره د Aنقطي په مطابق په دياگرام كې د $cos\varphi_k$ په اندازه اردينات بيلوواود صفري كرښي سره يي نښلووواود Cنقطې پورې ورته امتداد وركووواودغه نقطه د B نقطې سره نښلوپه پايله كې د II تاثيركرښه په لاس راځي.بيا د A نقطې له




۵.۷b شكل:دخوځنده بارلاندې كمان

مخې د $Q_{\text{k}}$ د I تاثیرکرښې سره موازي مستقیمه کـــرښه رسموواود K په نقطې کې د $cosQ_k$ اردینات بیلووپه پایله کې دعرضي قوې د $Q_{\text{k}}$ تاثیرکرښه جوړیږي.

د نارملي قوې د تاثیرکرښې لپاره لاندینۍ معادله کارول کیږي:

$$N_k = Q_k^0 sin\varphi_k + Hcos\varphi_k \ \ (c)$$

دغه معادله دعرضي قوې د تاثیر کرښې $Q_k^0$ او $sin\varphi_k$ د ضرب حاصل اودافقي مرکبېH اود$cos\varphi_k$ حاصل ضرب دالجبري مجموعې څخه عبارت ده.

د $N_{\text{k}}$ د ښې خوا د I تاثیرکرښې درسمولولپاره د Aنقطې په مطابق په دیاګرام کې د $sin\varphi_k$ اردینات بیلوواود C نقطې پورې ورته امتداد ورکوواودغه نقطه د صفري خطسره نښلووپه پایله کې د$N_{\text{k}}$ د I تاثیر کرښه یعني $k_1c_1$ مستقیمه کرښه په لاس راځي .بیا د a له نقطې څخه د دې کرښې سره موازې کرښه رسمووااود $k_1$ او $k_2$ نقطې سره نښلوو.دګینې خوا دتاثیرکرښه او $c_1$ او $B$نقطود نښلوو څخه د ښې خوا تاثیر II کرښه جوړیږي(۵.c۷ شکل).






۵. c ۷ شکل:دخوځنده بارلاندې کمان

**۵,۱ مثال**

يو کمان(۸,۵شکل)را کړل شوی دی.د کمان اتکاء ګانو $V_A$ ، $V_B$ ، $H_A$

او $H_B$ اتکاءيزعکس العملونه پيدا کړئ.




۵- ۸ شکل:دويشلي منظم بارلاندې کمان

**حل**

د کمان په دوو اتکاءګانو کې افقي $H_A$ او $H_B$ او عمودي $V_A$ او $V_B$ اتکا، يزعکس العملونه را منځ کيږي.چې د ستاتيک د لاندينيو تعادلي معادلو په مرسته يې پيداکولی شو:

$$\sum M_{\mathrm{A}} = 0;\ V_{\mathrm{B}} \times l - q \times 12\frac{12}{2} = 0\ \Rightarrow$$

له دې ځایه په لاس راوړو:

$$V_B = 30\ KN$$

$$\sum M_{\mathrm{B}} = 0;\ V_{\mathrm{A}} \times l - q \times 12\left(\frac{12}{2} + 12\right) = 0$$

له دې ځایه په لاس راوړو:

$$V_B = 90\ K$$

اوس افقي عکس العملونه پیداکوو:

$$\sum F_x = 0;\ H_A - H_B = 0 \Rightarrow\ H_A = H_B = H$$




۸ b.۵ شکل:دويشلي بارلاندې درې غوټې يزکمان

نسبت C غوټې ته تعادلي معادله ترتيبوو:

$$\sum M_C = o;\ V_B \times 12 - H_B \times f = 0$$

له دې ځایه په لاس راوړو:

$$H_B = \frac{30 \times 12}{6} = \frac{360}{6} = 60\ KN$$

که د $C$غوټې دګينې خواتعادل وګوررونوليکو:

$$\sum M_C = o;\ V_A \times 12 - H_A \times f = 0$$

$$H_A = 60\ KN$$

**۲-۵ مثال**

د يو کمان (۵ . ۹a شکل) له پاره دعرضي قوو Q اونا رملی قوې N او د کوږوالي مومنتونو M دياګرامونه رسم کړئ.




۵. ۹a شکل:دبارلاندې درې غوټې يز کمان

**حل**

لومړی د ستاتيک د تعادلي معادلو په مرسته $V_A$، $V_B$، $H_A$ او $H_A$ اتکاء ګانو(۵. ۹b شکل) اتکاءيزعکس العملونه د پيداکوو:

$$\sum M_A = 0;\ V_B \times l - P_2 \times \frac{3}{4} l - P_1 \frac{l}{2} - -q \frac{1}{4}\frac{l}{8} = 0.$$

له دې ځايه $V_B$ په لاس راوړو:

$$V_B = 14.75\ KN$$

$$\sum M_B = 0;\ V_A \times l - P_2 \times \frac{1}{4} l - P_1 \frac{l}{2} -$$

$$-q\frac{1}{4}\left(\frac{l}{8} + \frac{3l}{4}\right) = 0;$$




b.۵۹شکل:د بارلاندې درې غوټيز کمان

له دې ځايه د اتکاءيزعکس العمل $V_A$ په لاس راوړو:

$$V_A = 23.25\ KN$$

اوس افقي عکس العملونه $H_A$ او $H_B$ پيداکوو:

$$\sum F_x = 0;\ H_A - H_B = 0.\ H_A = H_B = H.$$

$$\sum_{C}^{R.S} = 0;\ V_B \frac{l}{2} - P_2 \frac{l}{4} - H \times f = 0$$

له دې ځايه $H$ په لاس راوړو:

$$H = 19.5\ KN$$

او همدارنګه:

$$\sum_{C}^{L.S} = 0;$$

د کمان په بيلا بيلوعرضي مقطعو(۱۰,۵ شکل)کې د نارملي قوو، عرضي قوو اود کوږوالي مومنتونو د پيدا کولو لپاره د کمان په بيلا بيلو I-I ، II-II او III-III عرضي مقطعو کې نارملي قوه $N_x^0$ عرضي قوه $Q_y^0$ او $M_z^0$ اودکوږوالي مومنت قيمتونه پيدا کوو:

$$N_x = -(N_x^0 \times sin\varphi + H \times cos\varphi);$$

$$Q_y = Q_y^0 \times cos\varphi - H \times sin\varphi \quad (5.1)$$

$$M_z = M_z^0 - H \times f$$

د I-I عرضي مقطع $(0 \le x \le 6\ m)$تيروو:

$$Q_{y_I}^0 = V_A - q.x = 23.25 - 3x;$$




۹,۵ شکل: دقوولاندې درې غوټې يزکمان

$$M_{\mathrm{I}}^{0} = V_A \times x - q\frac{x^2}{2} = 23.25 \times x - 1.5x^2;$$

د II-II عرضي مقطع $(6 \le x \le 12\ m)$تيروو:

$$\mathrm{Q}_{y_{\mathrm{II}}}^{0} = V_A - q.\frac{l}{4} = 5.25;$$

$$\mathrm{M}_{\mathrm{II}}^{0} = V_A \times x - ql\frac{(x - \frac{l}{8})}{4} = 5.25 \times x + 54;$$

د III-III عرضي مقطع $(12 \le x \le 18\ m)$تيروو:

$$Q_{y_{\mathrm{III}}}^{0} = V_A - q.\frac{l}{4} - P_1 = -4.75;$$

$$\mathrm{M}_{\mathrm{III}}^{0} = V_A \times x - ql\frac{(x - \frac{l}{8})}{4} - P_1\left(x - \frac{l}{2}\right) =$$

$$= -4.75 \times x + 174;$$

IV-IV عرضي مقطع $(18 \le x \le 24\ m)$تيروو:

$$\mathrm{Q}_{\mathrm{IV}}^{0} = V_A - q.\frac{l}{4} - P_1 - P_2 = -14.75;$$

$$\mathrm{M}_{\mathrm{IV}}^{0} = V_A \times x - ql\frac{(x - \frac{l}{8})}{4} - P_1\left(x - \frac{l}{2}\right) -$$

$$-P_2\left(x - \frac{3l}{4}\right) = -14.75 \times x + 354$$

د حاصل شووقيمتونوله مخې يې دياګرامونه رسموو(۵.c,d۹شکل).

له دې نه وروسته دکمان لوړوالی f پيداکوو:

$$y = f = -R + \sqrt{R^2 - (x - l/2)^2} \ (5.2)$$

د کمان قوس پيداکوو:

$$R = \frac{l^2}{8f} + \frac{f}{2} = \frac{24^2}{8 \times 6} + \frac{6}{2} = 15\ m$$

په متر،مترکې دy قيمت د پيداکولونه وروسته د$\tan\varphi$، $\cos\varphi$ او $\sin\varphi$ قيمتونه پيدا کوواوپه جدول کې يې درج کوو:

$$tan\varphi = \frac{dy}{dx} = \frac{\frac{l}{2} - x}{\sqrt{R^2 - (x - l/2)^2}}$$

$$cos\varphi = \frac{1}{\sqrt{1 + tan^2\varphi}} \ (5.3)$$

$$sin\varphi = tan\varphi \times cos\varphi$$

په پای کې (5.3)فورمول له مخې دکمان په ميلوکې د دننه عوامل په لاس راوړولکه x=0 مقطع کې:

$$y = 0, Q_y^0 = 23.25KN;\ M_z^0 = 0,$$

$$\sin\varphi = 0.8;\ cos\varphi = 0.6;\ H = 19.5KN.$$

د ۵,۱ فورمول په مرسته په ميلوکې دننه قوې پيداکوو:

$$\mathrm{M_z}(x = 0) = 0;\ -9.5 \times 0 = 0;\ \mathrm{Q_y}(x = 0) =$$

$$= 23.25 \times 0.6 - 19.5 \times 0.8 = -1.65\ KN;$$

$$N(x = 0) = -(23.25 \times 0.8 + 19.5 \times 0.6 =$$

$$= -30.3\ KN;$$

دغه لاس ته راغي قيمتونه ۵,۱ جدول کې ليکو او قدم په قدم دغه قيمتونه کنترولوو.

په ميلوکې د دننه قوود ټاکنې لپاره بايد د متمرکزو واقع شووبارونو پرځای د $Q_y$ او $N$ قيمتونه په پام کې ونيول شي،لکه $X = 12\ M$

۵,۱جدول:ددننه حواملوقيمتونه

| $x_1$ M | $M_z^0$ KN.M | $Q_y^0$ KN | $y_1$ M | $Tan\varphi$ | $cos\varphi$ | $sin\varphi$ | $M_z$ kN.M | $Q_y$ N | $N_z$ KN |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0.00 | 3.25 | 0.0 | 1.33 | 0.60 | 0.80 | 0.00 | -1.65 | -30.3 |
| 1 | 21.75 | 20.25 | 1.2 | 1.08 | 0.68 | 0.73 | -1.61 | -0.53 | -28.1 |
| 2 | 40.50 | 17.25 | 2.2 | 0.90 | 0.47 | 0.67 | -2.02 | -0.14 | -26.0 |
| 3 | 56.25 | 14.25 | 3.0 | 0.75 | 0.80 | 0.60 | -2.25 | -0.30 | -24.2 |
| 4 | 69.00 | 11.25 | 3.69 | 0.63 | 0.85 | 0.53 | -2.93 | -0.88 | -22.5 |
| 5 | 78.75 | 8.25 | 4.27 | 0.53 | 0.88 | 0.47 | -4.45 | -1.80 | -21.1 |
| 6 | 85.50 | 5.25 | 4.5 | 0.44 | 0.92 | 0.40 | -7.08 | -2.99 | -20.0 |
| 7 | 90.50 | 5.22 | 5.14 | 0.35 | 0.94 | 0.33 | -9.52 | -1.55 | -20.1 |
| 8 | 96.00 | 5.22 | 5.46 | 02.8 | 0.96 | 0.27 | -10.4 | -0.14 | -20.2 |
| 9 | 101.2 | 5.22 | 5.70 | 0.20 | 0.98 | 0.20 | -9.84 | 1.24 | -20.2 |
| 10 | 106.0 | 5.22 | 4.87 | 0.13 | 0.99 | 0.13 | -7.89 | 2.60 | -20.0 |
| 11 | 111.7 | 5.22 | 6.00 | 0.07 | 0.99 | 0.07 | -4.60 | 3.93 | -9.5 |
| 12 | 117.0 | | | 0.00 | 1.00 | | | | |
| 13 | 112.2 | -4.75 | 5.97 | -0.07 | 0.99 | 0.00 | 0.00 | 5.25 | -19.5 |
| 14 | 107.5 | -4.75 | 5.85 | -0.13 | 0.99 | -0.07 | -4.10 | -3.44 | -19.8 |
| 15 | 102.7 | -4.75 | 5.70 | -0.20 | 0.98 | -0.13 | -6.89 | -2.11 | -20.1 |
| 16 | 98.00 | -4.75 | 4.46 | -0.28 | 0.96 | -0.28 | -8.34 | -0.75 | -20.1 |
| 17 | 93.25 | -4.75 | 5.14 | -0.35 | 0.94 | -0.35 | -8.41 | -0.62 | -20.0 |

دجدول ادامه

| $x_1$ M | $M_z^0$ KN.M | $Q_y^0$ KN | $y_1$ M | $Tan\varphi$ | $cos\varphi$ | $sin\varphi$ | $M_z$ kN.M | $Q_y$ N | $N_z$ KN |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18 | 88.5 | -14.7 | 4.75 | -0.44 | 0.92 | -0.40 | -4.08 | -5.72 | -23.7 |
| 19 | 73.75 | -14.7 | 4.27 | -0.53 | 0.88 | -0.47 | -9.45 | -3.45 | -24.1 |
| 20 | 59.00 | -14.7 | 3.69 | -0.63 | 0.85 | -0.53 | -12.9 | -3.21 | -24.4 |
| 21 | 24.25 | -14.7 | 3.00 | -0.75 | 0.80 | -0.60 | -14.3 | -0.10 | -24.5 |
| 22 | 29.50 | -14.7 | 2.00 | -0.90 | 0.74 | -0.68 | -13.0 | 2.00 | -24.4 |
| 23 | 14.75 | -14.7 | 1.20 | 0.10.8 | 0.68 | -0.73 | -8.61 | 4.27 | -24.1 |

مقطعې لپاره د C نقطه کې،کوم چي دهغوي قيمتونه يې جدول کې دي مګرپه $x = 12 - 0$ مقطع کې هم مهاله درې برخې واقع کيږي، نوځکه $Q_y$ او $N$ په لاس راوړواود 5.1 فورمول په مرسته په مقطعي کې پيداکووچې :

$$Q'(x = 12) = -4.75 \times 1 - 19.5 \times 0 =$$

$$= -4.75\ M$$

$$N(x = 12) = -(-4.75 \times 0| + 19.5 \times 1) =$$

$$= -19.5\ KN$$

په همدې ډول ور ته د x=18 M مقطعې له پاره اړوند قيمتونه په لاس راوړواودعرضي قوې $Q_y$ اودکوړوالي مومنت $M_z$ دياګرامونه






۹,۵ شکل: بارونولاندې کمان

يې رسموو،ددیاګرام نه لیدل کي کیږي،چې دکوږوالي مومنت ډیرخطر ناکه حالت په  x=21 Mمقطع کې دی:

$$M_{max} = 14.3\ KN.M \text{ او } N = -24.5\ KN$$

له دې نه دامعلومیږي،چې نسبت ګاډرونوته په درغوتې یزوکمانونوکې دغه دننه عوامل ډیرلږدي[2: С. М. К. ст. 163 – 177]

۵,۳ مثال

یو کیبل دوله کمان د متمرکزو بارونو لاندې واقع دي(۱۰,۵ شکل)چې لوړوالی یې 36′ دي.د دې کمان له پاره د عرضي قوو او د کوږوالي مومنتونو دیاګرامونه رسم کړئ.

حل

لومړی د اتکاءګانو پرځای اتکاءيزعکس العملونه عوض کوواو د ستاتيک د تعادلي معادلوپه مرسته يې عددي قيمتونه پيدا کوو:




۵,۱۰ شکل: دعمودي بارونولاندې کيبل

$$\sum M_B = 0;\ \ V_A \times 180 - 60 \times 150 - 60 \times 120 -$$

$$-60 \times 90 - 60 \times 60 - 60 \times 30 = 0$$




$$V_A = \frac{9000 + 7200 + 5400 + 3600 + 1800}{180} =$$

$$= \frac{27000}{180} = 150kips$$

$$\sum M_A = 0;\ -V_B \times 180 + 60 \times 5 + 60 \times 4 +$$

$$+6 \times 90 + 60 \times 60 + 60 \times 30 = 0$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$V_A = \frac{9000 + 7200 + 5400 + 3600 + 1800}{180} =$$

$$= \frac{27000}{180} = 150kips$$

کنترول:

$$\sum F_y = 0;\ 150 - 60 \times 5 + 150 = 300 - 300 = 0$$

اوس دکمان په منځنی برخه کې دکوږوالي مومنت پيداکوو:

$$M = h \times y$$

h - دکيبل لوړوالی دی.

H- دکيبل اتکاءيزعکس العمل دی.

M – دکيبل په منځنی برخه کې دکوږوالي مومنت دی.

داچې دکيبل په منځنی برخه کې دکوږوالي مومنت 8100 kip.ft دی،نوځکه افقي عکس العمل قيمت به په لاندې ډول وي :

$$H = \frac{M}{y} = \frac{810}{36} = 225kip$$

د$y_1$ او$y_2$ فاصلې پيداکوو:

$$y_1 = \frac{M}{H} = \frac{4500}{225} = 20'$$

او : [5:251]

$$y_2 = \frac{M}{H} = \frac{7200}{225} == 32'$$




۵,۱۰ شکل: متمرکزوبارنولاندې کمان

## پوښتنې

### ۵,۱۵ پوښتنه

دېرې کونې د طريقې له مخې دکمان(۵,۱۱شکل) په ټولوميلوکې دننه عوامل پيداکړئ او بيايې دتاثيرکرښې رسم کړئ.




۵,۱۱شکل:دمتمرکزبارونولاندې کمان

## ۵,۲ پوښتنه

دپرې کونې دطريقې له مخې دکمان په ټولوميلوکې ددنه عوامل پيدا کړې اوبيايې دتاثيرکرښې رسم کړئ.




۵,۱۲شکل:دمتمرکزبارونولاندې کمان

# شپږم څپرکی

## مستوي ډوله ټاکلي ستاتيکي

## فرمونه (چوکاټونه) اوقيچي ګانې

### ۶,۱ د فرم مفهوم

فرم د هغه ساختماني جوړښت څخه عبارت دی،چې د میلو سیستم یې داسي جوړشوی.که سیستم د سختي نښتنې په غوټو باندې راو ړول شي، نو سیستم هماغسې په خپل حال هندسي نه بدلون موندونکي پاتې کیږي. فرمونه دستروواپه يزوپنډوګاډرونولکه دI ډوله عرضي مقطعې له پارهګټورنه وي کارول کيږي.ددې ډول سیستم دګاډر(۶,۱شکل) په عرضي مقطعوکې نارملي تشنجات خطي قانون دي،نوځکه د ديوالونو موادو نه پرله پسې توګه ګټه نه اخيستل کيږي اود پنډو وايه يزوګاډرونو کارول ډيرګټيو يا اقتصادي نه دي.
په همدغو حالتونوکې د میلودغه ډول سیستم يوازې په کشش او يا فشارکې فعالیت کولی شي.همدغه لامل دی،چې د فرم د موادوکارول نسبت يو ډول وايه يزګاډرته غوره دی.




۶,۱ شکل: دګاډرعرضي مقطع

## ۶,۲مستوي ډوله فرم

دا ډول فرم هغه فرم ته ويل کيږي،چې محورونه يې په يوه سطحه کې واقع شوي وي(۶,۲ شکل).




۲,۶ شکل:مستوي ډوله فرم

د اتکاءگانو د محورونو ترمنځ فاصلوته وايه(Sfine)وايي.هغه ميله چې د کنتورنه بهرواقع کيږي د کمربندپه نوم يې يادوي اود دووغوټوپه منځ کې فاصلې ته پانيل paniele ويل کيږي.هغه ميلې چې کمربندونه يوله بله سره نښلوي او جالی جوړوي دعمودي ستنو اومايلې ميلې يې د رسکوس په نوم سره يادوي.

## ۶,۳ د فرم ډله بندي

فرمونه د نښوله مخې په پنځوډلوويشل کيږي.

۱.دبهرني کنتوريامحيط د رسمونې دځانګړتيا له مخې.

۲.دجالی د ډول له مخې.

۳. د اتکاء د ډول له مخې.



۴.دګټې اخیستنې دځانګړتیا

له مخې. ۶. ۳ شکل:دکمان ډوله فرم

۵.دتیرېدنې یا عبوري سطحې له مخې.

د بهرنې کنتوردرسمونې د ځانګړتیا له مخې فرم په درې ډوله دی:

۱.د موازي کمربندونوفرم(۶,۲شکل).

۲. پولي کونې فرم(۶,۳ شکل ).

۳.مثلثي فرم(۶,۴ شکل).




۴,۶ شکل:مثلث ډوله فرم

د جالۍ د ځیرې له مخې فرم په لاندې څلورو ډلو ویشل کیږي:

۱.مثلثي جاله یزفرم(۶-۵ شکل).

۲.جالۍ داره دمایلولرونکی فرم (۶,۵ شکل).

۳.جالۍ داره معین ډوله یا رمبیک فرم(۶,۷ شکل).

۴.پیچلی فرم.



۶,۵ شکل:مثلثي جالۍ داره فرم




۶. ۶ شکل:کنسولي فرم

د اتکاء له مخې فرم په څوګروپونوويشل کيږي:

۱.ساده ګاډري فرم (۶,۶،او۶,۷ شکلونه).

۲.د سختي اتکاءکنسولي فرم(۶,۵ شکل).

۳.کنسولي فرم(۶,۵شکل).




۷,۶ شکل:معين ډوله يارمبيک فرم

د ګټې اخيستنې د طرزله مخې په لاندې څو ګروپونو ويشل کيږي:

۱.د ودانيزيا ساختماني فرم.

۲. کرين ډوله فرم.

۳.برجي کرين ډوله فرم.

۴.پل ډوله فرم.

د تيرېدنې يا عبوري سطحې له مخې فرم په څوډلو ويشل کيږي:

۱.دلاندې تيرېدنې فرم.

۲.دپورتنۍ تيرېدنې فرم.

۳.دمنځنۍ تيرېدنې فرم.

### ۶,۳ د ساده فرم په ميلوکې ددننه عواملو ټاکنه

ساده فرم هغه فرم ته ويل کيږي،چې دوه ميلې يې دمثلث په څير،چې د يوې مستقيمې کرښې له پاسه نه وي پرتې اودغوټوپه ذريعه يوله بله سره نښتې وي.دغه ډول فرم ټاکلی ستاتيکي هندسي نه بدلون موندونکی فرم دی.

د دې ډول فرمونو شميرنه د اتکاء يزوعکس العملونونه پيليږي چې د هغوي د ټاکنې لپاره د ستاتيک درې تعادلې بايد ترتيب شي او د ميلو د بيلا بيلو برخو د دننه عواملو د ټاکنې له پاره بايد د غوټو په شا وخوا عرضي مقطعې په پام کې ونيول شي.ددې موخې لپاره بايد د بهرنی بار د 2k-3 په اندازه معادله ترتيب کړی شي ،چې دلته k د غوټوشميررا په ګوته کوي.

د دننه عواملود ټاکنې له پاره دوه طريقې شتون لري:

الف.دمقطعې طريقه.

ب. دفرم دغوټوطريقه

**لومړۍ مقطعې طريقه:** اټکلوو،چې په 6-4 ،5-4 او 5-3ميلوکې د

دننه عواملوټاکنه غوښتل شوې ده:

۱. دفرم اتكاءيزعكس العملونه پيداكوو:

$$\sum M_B = 0;\ R_A \times 4d - P \times 3d -$$

$$-P \times 2d - P \times d =$$

له دې ځايه د$R_A$ قيمت په لاس راوړو:

$$R_A = \frac{6d}{4} = 1.5\,P;\ \Rightarrow\ R_A = 1.5\,P$$

$$\sum M_B = 0;\ -R_B \times 4d + P \times 3d +$$

$$+P \times 2d + P \times d = 0$$

له دې ځايه د$R_B$ قيمت په لاس راوړو:

$$R_B = \frac{6d}{4} = 1.5\,P;\ \Rightarrow\ R_B = 1.5\,P$$

د لاس ته راغلوقيمتونودكنترول لپاره دغه معادله كاروو:

$$\sum F_y = 0;\ R_A + R_B - P - P - P = 0;$$

$$3P - 3P = 0 \Leftrightarrow 0$$






۶. ۸ شکل:دبهرني بارلاندې فرم

۲. فرم په يوځای کې پرې کووا و د پرې شوې برخې د ګينې خوا تعادل يې ګوروا ود حل لپاره يې د ستاتيک تعادلې معادلې ترتيبوو:

$$\sum M_5 = 0;\ R_A \times 2d - P \times d + S_{4-6} \times h = 0.$$

له دې ځايه $S_{4-6}$ په لاس راوړوچې:

$$S_{4-6} = \frac{-R_A \times 2d + P \times d}{h} = -\frac{2P.d}{h}(cm)$$

$$\sum M_1 = 0;\ R_A \times d - S_{3-5} \times h = 0.$$

دې ځايه $S_{3-5}$ په لاس راوړوچې:

$$S_{3-5} = \frac{1.5 \times Pd}{h} = -\frac{1.5.P.d}{h}(tons)$$

د 4او5 نقطې دمومنتي نقطوپه نوم سره ياديږي.

د $S_{4-5}$ قوه دلاندينی معادلی څخه پيداکوو:

$$\sum F_y = 0;\ R_A - P - S_{4-5} \times sin\alpha = 0$$

له دې $S_{4-5}$ ځایه د قیمت په لاس راوړو:

$$S_{4-5} = \frac{R_A - P}{sin\alpha} = \frac{1.5\ P}{sin\alpha}$$

د دې طریقې په مرسته دفرم په هره یوه میله کې د ننه قوې پیدا کولی شو.

### ۴,۶ دغوټې طریقه

د دې طریقې له مخې د دننه قوې په هغوغوټوکې پیدا کولی شو،چې په غوټه کې لږ تر لږه دوه میلې سره نښتې وي(۶,۹ شکل).

د $S_{1-2}$ او $S_{1-3}$ دننه قوو دټاکنې لپاره د A غوټې پرشا وخوا میلې دایروي پرې کوواو له دې دووبرخوڅخه دیوې خوا تعادل یې ګورواود ستاتیک تعادلې معادلې کاروو:

$$\sum \mathrm{F_y} = 0;\ R_A + S_{1-2} \times sin\alpha = 0$$

$$S_{1-2} = -\frac{R_A}{sin\alpha}\ (ton)$$




۶,۹ ش

= 0

$$S_{1-3} = \frac{R_A \times cos \propto}{sin \propto} = R_A \times cotan \propto$$

په نورو ميلو کې د دننه قوو د ټاکنې له پاره دهرې يوې غوټې لکه 2،3، 4 ، 5،7او 8اتمې غوټولپاره ميلې پرې کوو.

### ۵,۶ دفرم دنه بدلون موندونکي حالت څېړنه

د درې غوټې يزفرم د نه بدلون موندونکي حالت لپاره بايد د استقلاليت حد Wصفروي:

$$W = 2k - S - S_0 = 0.$$

په دغه فورمول کې:

$S$ - دفرم ددننه ميلوشميردی.

$S_0$- دفرم داتکاءيزوميلوشميردی.

پورتنی شرط د فرم دهندسي نه بدلون موندونکي حالت د قضاوت په موخه حتمي مګربشپړنه دی اودساختمانونوپه سينماتيکي څېړنه کې به يې وګورو.

### ۶,۶ دساده فرم په ميلوکې ددننه قوودتاثيرکرښې

د فرم په ميلوکې د دننه قوودتاثيرکرښې هغه ګراف ته ويل کيږي،چې د P=1 خوځنده باردموقعيت په پام کې نيولوسره د فرم په ميلوکې د دننه قوود بدلون قانون ځانګړی کوي.

د P=1 خوځنده بارد فرم د پورتني اوښکتني کمربندونو په غوټو کې واقع کوو،چې د فرم په غوټوکې د انتقالي بارد حالت شرطونه په لاس راوړو.په دې ترتيب دفرم په ميلوکې د دننه قوود تاثيرکرښې د ستاتيکي اويا سينما تيکي طريقوپه مرسته ترسره کيږي.

## ۷,۶ ستاتيکي طريقه

دغه طريقه هغې ته ويل کيږي،چې په کيفي غوټوکې د P=1 خوځنده باړواقع کوواود دننه قوود ټاکنې له پاره دستاتيک تعادلي معادلې ترتيبوو چې دغه هم د تاثيردکرښومعادلې دي.

له دې سره ورته طريقه د فرم په ميلوکې دثابت بارله اغيز نه د دننه قوود ټاکنې له پاره کولی شو،چې دميلودپرې کونې اويا دغوټوپه شاوخوا کې د ميلو د پرې کونې طريقې وکاروو،مګرغوره دا ده،چې هغه طريقه بايد وکاروو،چې له هغوي څخه د تاثيردکرښوساده معادلې په لاس راشي.

د فرم داتکاءيزوعکس العملونود تاثيرکرښې د ګادرسره ورته دي،چې د فرم د دننه ساختمان پورې کومه اړه نه لري،مګرد اتکاء ګانود موقعيت پورې اړه لري.

د فرم د ميلو د تاثيرکرښوپه ترتيبولوکې اټکلوو،چې د اتکاء ګانو د تاثير کرښې معلومې دي.

د فرم په ميلوکې د تاثيرد کرښود ترتيبولولپاره لانديني مثال ګورو.

### ۶,۱ مثال

د يوفرم(۶,۱۰شکل) په پورتني کمربند کې P=1 خوځنده بار واقع دی د فرم د $R_{\mathrm{A}}$ اتکاء او په 9-7، 9-6 او 7-6 ميلوکې د تاثيرکرښې رسم کړئ.

ترهرڅه د مخه لومړی د $R_{\mathrm{A}}$ عکس العمل د تاثيرکرښه پيدا کوو:

$$\sum M_B = 0;\ R_{\mathrm{A}} \times \ell - \mathrm{P} \times \mathrm{z} = 0.$$

له دې ځايه $R_{\mathrm{A}}$ په لاس راوړو:

$$R_{\mathrm{A}} = \frac{\mathrm{z}}{l}\ 0 \le z \le l$$

کله :

$$z = 0;\ \ R_{\text{A}} = \frac{0}{l} = 0 \ \Rightarrow \ R_{\text{A}} = 0$$

$$z = l;\ \ R_{\text{A}} = \frac{l}{l} = 1 \ \Rightarrow \ R_{\text{A}} = 1$$






۶,۱۰ شکل:دځوځنده بارلاندې بار

په همدې ډول ورته $R_B$ د تاثیرکرښه هم رسمولی شو.

له دې نه وروسته دمقطعې اودغوټې طریقې دواړه هم مهال کاروو

(b.۶‌۱۰شکل)اوپه شکل کې د قطعې له مخې په میلوکې د قطع دواړو خواو ته د ننه قوې $S_{6-8}$ ، $S_{6-9}$ او $S_{7-9}$ ښیواو پورتنی شکل په لاندې ډول ښشیړوو.

## د $S_{7-9}$ د تاثیرکرښه

د $S_{7-9}$ قوې د تاثیرد کرښې د رسمولو لپاره نسبت 6غوټې ته مومنتي معادله ترتیبوواود دې لپاره دP=1 خوځنده باردمقطعې په ښې خواکې واقع کوواود فرم ګینه خواګورو:

$$\sum M_6 = 0;\ R_A \times 3d - S_{7-9} \times h = 0$$

$$S_{7-9} = \frac{R_A \times 3d}{h}$$

دغه معادله د$S_{7-9}$ دتاثیرکرښې ښې خوامعادله ده.

دګینې خوا دتاثیرد کرښې د معادلې دلاس ته راوړلولپاره P=1خوځنده بار ګینې خواکې واقع کوواود فرم ښې خوا ته نسبت 8 غوټې ته مومنتي معادله ترتیبوو:

$$\sum M_8 = 0;\ -R_B \times 5d + S_{7-9} \times h = 0$$

$$S_{7-9} = \frac{R_B \times 5d}{h}$$

دغه معادله د $S_{7-9}$ تاثیرکرښې د ګینې خوا معادله ده د تاثیرکرښې رسموو(e.۶۱۰شکل).

## د $S_{6-9}$ د تاثیرکرښه

د دې قوې د تاثیرد کرښې درسمولولپاره P=1 ځوځنده بارد مقطعې په ښې خوا کې واقع کوواو نسبت y محورته تعادلي معادله ترتیبوو او د فرم ګینه خواګورو:

$$\sum_{L.S} F_y = 0;\ R_A - S_{6-9} \times sin \propto = 0$$

$$S_{6-9} = \frac{R_A}{sin \propto}$$

دغه معادله د$S_{6-9}$ دتاثیرکرښې د ښې خوامعادله ده.

د$S_{6-9}$ قوې د تاثيرد کرښې دمعادلې دلاس ته راوړلوله P=1خوځنده بارد مقطعې په کينه خوا کې واقع کوو اونسبت y محورته تعادلي معادله ترتيبوو:

$$\sum_{R.S} F_y = 0;\ R_B + S_{6-9} \times sin \propto = 0$$

$$S_{6-9} = -\frac{R_B}{sin \propto}$$

دغه معادله د $S_{6-9}$ تاثيرکرښې دګينې خوامعادله ده.

## د $S_{7-6}$ تاثيرکرښه

د$S_{6-9}$ قوې د تاثيرکرښې د رسمولو لپاره غوره ده،چې د غوټې طريقې نه کاراخلو،د 7غوټې په شاوخوکې ميلې پرې کوواونسبت y او $y^{/}$ دواړو محورنوته معادلې ترتيبوو:

$$\sum y^{/} = 0;\ S_{7-6} \times cos\beta + S_{7-9} \times sin\beta = 0$$

$$S_{7-6} = -\frac{S_{7-9} \times sin\beta}{cos\beta} = -S_{7-9} tan\beta$$

دغه معادله د$S_{7-6}$ قوې د تاثيرکرښې دګينې خوامعادله ده.اويا په بل ډول:

$$S_{7-6} = -\frac{R_A \times 3d}{h} \times tan\beta$$

### ۷,۶ شپرنګلي فرمونه

لکه چې د فرم په موضوعګانوکې مو وکتل،په فرم کې دننه قوې دهغه دلوړوالي h سره متناسبې دي.يعنې هرڅومره چې د فرم لوړوالی ډيروي، نوپه هماغه اندازه په ميلوکې دننه قوې لږې وي.له همدې امله دفرم جالۍ ګانې داسې بايد جوړې شي ترڅوچې دعمودي اومايلو ميلو ترمنځ زاويې$45^0$ درجې وي(۶.a۱۱شکل).نوځکه د پانيل فا صل د فرم دلوړوالي سره بايد برابر وي h=d.

د فرم د لوړوالي د لوړیدومسئله داسې حلیږي،چې د فرم په هرپاینل کې باید اضافي عناصرچې دشپرنګل په نوم سره یادیږي ور باندې زیاتیږي (۶.b۱۱شکل).




۶.a,b,c۱۱شکلونه:شپرنګلي فرم

**۶,۲ مثال**

د ميله يزفرم(۱۲,۶شکل)په ميلوکې د بهرنيومتمرکزو قوو له اغيزڅخه دننه امتدادي قوې پيدا کړئ اوبيا د ميلولپاره د تاثيرکرښې رسم کړئ.




۶,۱۲ شکل:دبهرنيومتمرکزوقووتراغيزلاندې فرم

**حل**

لومړی اتکاءيزعکس العملونه د ستاتيک دتعادلي معادلوپه مرسته پيدا کوو:

$$\sum \mathrm{M_A} = 0;\ P.a + 2P.2a + P.3a -$$

$$-V_B.4a = 0$$

$$\sum \mathrm{M_B} = 0; V_A.4a - 2P.4a - P.3a -$$

$$2P.2a - Pa = 0$$

د لومړی معادلې نه $\mathrm{V_B}$ پيدا کوواو د معادلې نه $\mathrm{V_A}$ پيدا کوو:

$$V_B = \frac{P.a + 2P.2a + P.3a}{4a} = \frac{8aP}{4a} = 2P$$

$$V_A = \frac{2P.4a + P.3a + 2P2a + pa}{4a} =$$

$$= \frac{16aP}{4a} = 4P$$

د اتكاءيزعكس العملونود ټاكنې نه وروسته د فرم په ښې خوا كې ميلې پرې كوو(۱۲b.۶شكل )او د ګينې خواهرې يوې پرې شوې برخې لپاره تعادل يې په ځانګړې توګه ګورو او د ستاتيک تعادلې معادلې كاروو.

د اتكاءيزوعكس العملونود پيدا كولونه وروسته دهغوي كنترول كوو:

$$F_y = 0;\ V_A + V_B - \ 2P - P - 2P - p =$$

$$= 4P + 2P - 6P = 6P - 6P = 0 \Leftrightarrow 0$$

له دې نه وروسته د فرم د A غوټې په شاوخوا په ميلو كې دغوټې د طريقې په مرسته دننه امتدادي قوې پيداكوو:

$$F_y = 0;\ N_{A1} + 4P = 0\ \Rightarrow\ N_{A1} = -4P$$

$$F_x = 0;\ N_{A8} = 0$$






۶,۱۲ شکل:دمتمرکزقوولاندې فرم

له دې نه وروسته د فرم د 1 غوټې په شاوخوا ميلوکې دغوټې دطريقې په مرسته دننه امتدادي قوې پيداکوو:

$$F_y = 0;\ N_{A1} - 2P - N_{16}.cos45^0 = 0$$

$$F_x = 0;\ N_{12} + N_{16}.cos45^0 = 0$$

$$N_{16} = -\frac{4P - 2P}{cos45^0} = \frac{2P}{0.707} = 2.82P$$

$$N_{12} = 2.82P \times 0.7.7 = 1.99P \approx 2P$$

له دې نه وروسته د فرم د B غوټې په شاوخوا په میلوکې دغوټې د طریقې په مرسته دننه امتدادي قوې پیداکوو:

$$\mathrm{F_y} = 0;\ N_{B5} + 2P = 0\ \Rightarrow\ N_{A1} = -2P$$

$$\mathrm{F_x} = 0;\ N_{B8} = N_{BA} = 0$$




له دې نه وروسته د فرم د 5 غوټې په شاوخوا میلوکې د غوټې د طریقې په مرسته دننه امتدادي قوې پیداکوو:

$$\mathrm{F_y} = 0;\ 2P - \mathrm{N}_{57}.\,cos45^0 = 0$$

$$\mathrm{F_x} = 0;\ N_{54} + N_{57}.\,cos45^0 = 0$$

$$\mathrm{N}_{57} = \frac{2P}{0.707} = 2.82P$$

$$N_{54} = 2.82 \times 0.707 = -1.99P \approx -2P$$

اوس په میلوکې د دننه قوود ټاکنې لپاره د فرم لومړی قطع ګورو او د ستاتیک تعادلي معادلې کارو:

$$\sum M_3 = 0;\ (4P - 2P)2a - Pa -$$

$$-N_{68}.\,l_{36} = 0$$

د $l_{36}$ قيمت د پيداکولولپاره لاندينۍ معادله کاروو:

$$a^2 + b^2 = l_{36}^2$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$l_{36} = \sqrt{2a} = 1.414a$$

اوس په 6-8 ميله کې $N_{68}$ دننه قوه پيداکوو:

$$N_{68} = \frac{(4P - 2P)2a - Pa}{l_{36}} = \frac{8Pa - 5Pa}{1.414a} =$$

$$= \frac{3Pa}{1.414a} = 2.12P$$




همدارنګه په 6-3 ميله کې $N_{63}$ دننه قوه

پيداکوو:

$$M_8 = 0;\ (4P - 2P)2a - Pa$$

$$+N_{63}.l_{36} - -2P.2a = 0$$

دغرنګه،چې $l_{68} = l_{63}$ نو ځکه د $N_{63}$ قيمت په لاندې توګه پيدا

کوو:

$$N_{63} = \frac{Pa}{1.414a} = 0.707P$$

اوس کنترول کوو:

$$\sum F_x = -2.82P.cos45^0 + 0.707.cos45^0 +$$

$$+2.122P.cos45^0$$

اوس د فرم دویمه قطع ګورو،په دې قطع کې د$N_{87}$ قوه واقع ده،چې

د ستاتیک د تعادلي معادلې له مخې یې قیمت پیداکولی شو:

$$\sum M_3 = 0$$

$$\sum M_3 = 2P.2a - Pa - N_{87}.l_{87} = 0$$

ځرنګه چې $l_{36} = l_{37} = l_{87}$ نوځکه

له پورتني فورمول ځخه په لاس راوړو

چې:




$$N_{87} = \frac{2P.2a - Pa}{1.414a} =$$

$$= \frac{3Pa}{1.414a} = 2.122P$$

همدارنګه:

$$\sum M_8 = 2P.2a - Pa - N_{37}.l_{87} -$$

$$-2P.2a = 0$$

$$N_{37} = \frac{2P.2a - Pa - 4Pa}{1.414a} = \frac{-Pa}{1.414a} =$$

$$= 0.707P$$

له دې وروسته د فرم په میلوکې د دننه قوود تاثیرکرښې رسموو (۶,۱۲شکل).

لومړۍ د پخوا په څیرد اتکاءګانو (۱۲b,c.۶شکل) د تاثیر کرښې رسموو.

په میلوکې د تاثیرد کرښودرسمولولپاره دI-I مقطعې په ښې خوا کې واحدي بار P=1 واقع کوو (۱۲a.۶شکل)،اود مقطعې ګینه ګورو،نود میلې لپاره نسبت نقطې ته ) (1 تعادلي معادله ترتیبوو:

$$\sum M_1 = 0;\ N_{63}.\,l_{16} = 0, \Rightarrow N_{63} = 0;$$

بیا واحدي بارد I-I مقطې په ګینه خواکې واقع کوواود ښې خوا تعادل یې ګورو:

$$\sum M_1 = 0;\ N_{63}.\,l_{16} - V_B.\,4a = 0$$

$$\Rightarrow\ N_{63} = \frac{V_B \times 4a}{1.414a} = 2.82V_B = 5.657P;$$

د 3-6 میلې دتاثیرکرښې(۱۲d-۶شکل) لپاره :

$$N_{63} = 0.707\ \mathrm{P}$$

د1-2 میلې د تاثیرکرښې لپاره هم د I-I مقطع کاروو.په ګینه خوا کې بار واقع دی دی اود ښې خواتعادل یې ګورو:

$$\sum M_6 = 0;\ \ V_A.\,a + N_{23}.\,a = 0$$

$$N_{23} = -V_A$$

دا چې واحدی باردمقطعې په ګینه خواکې واقع دی،نوځکه د I-I

مقطعې ښې خواګورو:

$$\sum M_6 = 0;\ V_B.\,3a + N_{23}.\,a = 0;$$

$$N_{23} = -3V_B.$$

د$N_{23}$ د تاثیرکرښه رسمووڅ(۶.e۱۲شکل).

د $N_{23}$ قوې د تاثیر کرښه رسمووڅ(۶-f۱۲شکل)شکل ته وګورئ او فرم په بهرني باربارووڅ:

$$N_{23} = P(-0.75) + 2P(-0.5) + P(-0.25) = 2P$$

اود $N_{68}$ قوې د تاثیرکرښه رسمووڅ،اتکلووچې واحدي قوه د I-I

مقطعې په ښي خوا کې واقع ده.نوهغه مهال د مقطې د ګینې خوا تعادل ګورو:

$$\sum M_3 = 0;\ V_A.2a - N_{68}.l_{36} = 0.$$






۶,۱۲شکل :دفرم په ميلوکې دتاثيرکرښې

$$N_{68} = \frac{V_A.2a}{l_{36}} = \frac{V_A.2a}{1.414a} = 1.414.V_A$$

که چيرې واحدي قوه د I-Iمقطعې په ګينه خوا کې واقع شی،نود I-I مقطعې دښې خواتعادل ګورو:

$$\sum M_3 = 0;\ V_B.2a - N_{68}.l_{36} = 0.$$

$$N_{68} = \frac{V_B.2a}{l_{36}} = \frac{V_B.2a}{1.414a} = 1.414.V_B$$

د لاس ته راغلوقيمتونوله مخې د$N_{68}$ قوې(۶.f۱۲شکل) د تاثيرکرښه رسمووأود لاس ته راغلي تاثيرکرښی باندې يې باروو:

$$N_{68} = P.0.353 + 2P.0.707 + P.0.353 =$$

$$= 2.122P$$

له د ې ورسته II-IIمقطع په پام کې نيسواو واحدي بارد مقطعې په ګينه خوا کې واقع کوواو د ښې خواتعادل يې ګورو.د دې لپاره چې د$N_{57}$ قوې د تاثيرکرښه رسم کړو،نود لاندېنی معادلې نه کاراخلو:

$$\sum F_y = 0;\ V_B - N_{57}.cos45^0 = 0.$$

$$N_{57} = 1.414V_B$$

د $V_B$ دتاثيرکرښې ټول اردينات په 1.414 قيمت کې ضربووداوغه برخه چې د II-II مقطعې په ګينه خوا کې(۶.g۱۲شکل) کرښې کرښې کوو،ځکه چې واحدي باردمقطعې په ګينه خواکې واقع دی.

اوس اټکلووچې واحدي بارپه 5 نقطې کې واقع دی.اود فرم د ښې خوا برخې لپاره چې د II-II مقطعې په ښې خواکې واقع ده معادله ترتيبوو:

$$\sum F_y = 0;$$

نوپه لاس راځي چې دننه قوه $N_{57} = 0$ ده .د قوې د رسم شوي تاثير کرښه په متمرکزې قوې باندې باروو(۶.a۱۲شکل):

$$\mathrm{N}_{57} = 2P.0 + P.0.353 + 2P.0.707 + +P.1.06 =$$

$$= 2.82P$$

په بارشوي 7-4شپرنکل کې د $N_{47}$ قوې د تاثيرکرښې د رسمولو له پاره بايد د P=1 واحدي قوې دوه حالتونه په پام کې نيسو:

لومړی واحدقوه 4 په غوټه کې يعنې ( $N_{47} = -1$ )او په دويم حالت کې د فرم په نورو غوټو(۶. h۱۲شکل).کې $N_{47} = 0$ او په پای کې د $N_{45}$ قوې دتاثيرکرښه رسموو،د دې لپاره د II-II مقطع کارووواو واحدي قوه د مقطعې په ګينه خواکې واقع کوواو د ښې خوا تعادل يې ګورو په لاس راوړو چې:

$$\sum M_8 = 0;\ N_{45}.2a + V_B.2a = 0.$$

$$N_{45}. = -V_B = 4P$$

بارپه  5نقطه کې دی د فرم د ښې خوا د تعادلي شرايطو څخه په لاس راوړوچې:

$$\sum F_y = 0;\ 1 - 1 - N_{45}.cos45^0 = 0,$$

$$N_{45} = 0,$$

او:

$$\sum F_x = 0, N_{45} = 0,$$

د 5نقطې له پاره بايددننه قوه حتمی صفروي(۶.j۱۲شکل) د 4 نقطې لاند ې د اردينات په 0.75 اندازه يوه منکسره کرښه رسموو،چې د 5 نقطې سره سمون لري اوپه هغې کې قوه صفر ده.

د فرم د $N_{45}$ قوې دتاثيرپه بهرنی باربارو:

$$N_{45} = P.0.25 + 2P.0.5 + P.0.75 = 2P$$

**۶,۳ مثال**

د درې غوټې يزفرم (۶,۱۳ شکل)له پاسه متمرکزې قوې اغيزې کوي.د فرم په ميلوکې امتدادي قوې پيداکړئ اودفرم د ميلولپاره دتاثيرکرښې که دبهرنيوقوود تاثيرکرښې و کاروئ رسم کړئ.

**حل**

لومړی د ستاتيک دتعادلي معادلوپه مرسته اتکاءيزعکس العملونه پيداکوو:

$$\sum \mathrm{M_A} = 0;\ P.a + 2P.2a + 2P.3a +$$

$$+P.4a - V_B.5a = 0$$

$$V_B = \frac{P.a + 2P.2a + 2P.3a + P.4a}{5a} = 3P$$

$$V_B = 3\ P$$

$$\sum \mathrm{M_B} = 0;\ -P.4a - 2P.3a - 2P.2a -$$

$$-P.a + V_A.5a = 0$$

$$V_A = \frac{-P.4a - 2P.3a - 2P.2a - P.a}{5a} = 3P$$

$$V_A = 3\ P$$

$$\sum M_C^{R.S} = 0;\ P.a + H.2a - V_B.2a = 0.$$

$$H = 25\ P$$

د Aاو Bغوټې دغوټې دطريقې له مخې پرې کوو:

$$N_{A4} = N_{B8} = -3.536\ P$$

$$N_{A1} = N_{B7} = -0.5\ P$$

د 1او 7غوټې دغوټې دطريقې له مخې پرې کوو:

$$N_{14} = N_{78} = -3.536\ P$$

$$N_{A1} = N_{12} = -0.5\ P = N_{67}$$

اوس د غوټې تعادل ګورو:

$$N_{86} = -P.N_{C6} = -0.5\ P$$

د 4 غوټې تعادل ګورو،لومړی د C-4-2مثلث څخه په لاس راوړو چې:

$$tan\beta = \frac{2a}{a} = 2;\ \beta = 63.4^0$$

$$sin\beta = 0.894;\ cos\beta = 0.446.$$







۶,۱۳شکل: دبهرنيوقوولاندې فرم

له دې نه وروسته ليکوچې:

$$\sum F_x = 0;\ 3.356Psin45^0 - 0.707Psin45^0 +$$

$$+N_{45}.sin\beta = o,$$

$$N_{45} = -2.237P.$$

$$\sum F_y = 0;\ 3.356Pcos45^0 + 0.707Pcos45^0 +$$

$$+N_{24} - 2.237P.cos\beta = o$$

$$N_{42} = -2\ P$$

ميلې د I-I په امتداد کې پرې کوو اود فرم پرې شوې برخې تعادل يې ګورو:

$$\sum M_5 = 0;\ 2.5P\ - 1.5P - 3P.2a -$$

$$-N_{23}.\frac{a}{2} + P.a = 0,$$

$$N_{23} = -2.5\ P,$$

د 3غوټې په شاوخوا کې ميلې پرې کوواو تعادل ګوروو نو په لاس راوړوچې:

$$N_{C3} = -2.5\ P, N_{35} = -2\ P,$$

د 2غوټې په شاو خوا کې ميلې پرې کوواو تعادل ګورو، نوپه لاس راوړوچې:

$$\sum F_y = 0;\ -P + 2P - N_{25}.cos\beta = 0.$$

$$N_{25} = 2.24\ P$$

د $\sum F_y = 0$ شرايط د کنترول له پاره کارول کيږي.د فرم ميلې په II-II امتداد کی پرې کووا‌و د يوې خوا تعادل يې ګورو،د معادلې څخه او د ښې يا ګينې خوادتعادل څخه په لاس راوړو:

$$\sum F_y = 0;\ N_{5C} = 0.$$

د فرم ميلې د III_III په امتداد کې پرې کووا‌و د تعادل څخه يې په لاس راوړوچې:

$$N_{CB} = -2.282\ P.$$

په همدې ډول ورته په ټولوميلو(۶،۱۳ شکل)کې امتدادي قوې پيدا کولی شو.

د فرم د ميلو د دننه قوو د تاثير د کرښو رسمولو په موخه لومړي د عمودي اتکاءيزعکس العملونو(۶. ۱۳b,c شکل)دتاثيرکرښې رسموو د تاثيردغه کرښه باروواوپه لاس راوړوچې:

$$H_A + H_B = P.0.8 + 2p.0.6 + 2P.0.4 + P.0.2 = 3P$$

له دې نه وروسته د راسپور $H_A + H_B = H$ د تاثيرکرښې رسمولو ته ورتيريږو.اټکلووچې واحدي بارد غوټې په ګينه خوا کې واقع دی،نو د فرم دښې خواتعادل ګورو:

$$\sum M_C = 0;\ V_B.2a - H.2a = 0.H = V_B$$

که بارد $C$غوټې په ښې خواکې واقع شي،نودفرم د ګينې خوا تعادل يې ګورو:

$$\sum M_C = 0;\ V_A.3a - H.2a = 0.H = 1.5V_A$$

د راسپورد تاثير کرښه رسموو(۶.$c$ ۱۳شکل) اودغه د تاثيرکرښه باروو اوپه لاس راوړوچې:

$$H = P.0.2 + 2P.0.4 + 2P.0.6 + P.0.3 = 2.5P$$

د$N_{A1}$ د تاثيرکرښې دسمولولپاره دI-I مقطع په پام کې نيسو.که چيرې P=1 واحدي بار د مقطعې په ښې خوا کې واقع کوواود فرم د ګينې خوا تعادل ګورو:

$$\sum M_1 = 0;\ H_A.2a + N_{A4}.l_{14} = 0.$$

$$N_{A4} = \frac{H_A.2a}{l_{14}}$$

ځرنګه چې : $l_{14} = \sqrt{2a^2} = 1.414a$ دی،نوځکه:

$N_{A4} = -1.414.H$ دی،يعنې د$H$ د تاثيرکرښې اردينات په ضربوو اود $N_{A4}$ دتاثيرکرښه رسموو(۶.d۱۳شکل).

د$N_{A4}$ د تاثير د کرښې د نورو برخولپاره،اتکلوو چې واحدي بارد 1 په نقطه کې واقع دی نوځکه دتعادلي شرايطوله مخې يعنې $\sum M_C = 0;$

ځخه $V_A = 1$ او$H_A = 0$ په لاس راځي .بيا د Aغوټې په شاوخوا کې ميلې پرې کوواو تعادل يې ګوروپه لاس راوړو چې $N_{A4} = 0$ د فرم د 1 نقطې لاندې د$N_{A4}$ تاثيرکرښې باندې دغه اردينات ځای پرځای کوو.

لدې نه وروسته انتقالي کرښه تيروود $C$ نقطې سره د 0 او0.282 نقطې سره نښلوواود $N_{A4}$ د تاثيرکرښه په بهرني باربارو:

$$N_{A4} = P(-0.282) + 2P(-0.565) +$$

$$+2P(-0.848) + P(-0.424) = -3.53P$$

فرم په II-II کې پرې کوواوواحدي باردمقطعې په ښۍ خواکې واقع کوو ګينې خوا تعادل يې ګوروا وله هغې ځخه د $N_{5C}$ قوې د تاثيرکرښه رسموو(۶.e۱۳شکل):

$$\sum F_y = 0;\ V_B - N_{5C}.\sin\beta = 0,$$

$$N_{5C}=1.119$$

د تاثيردغه کرښه په بهرني متمرکزباربارو:

$$N_{5C} = P.0.223 + 2P.0.447 +$$

$$+2P(-0.447) + P(-0.223) = 0$$

د II-II مقطع د$N_{3C}$ قوې د تاثيرکرښې درسمولو لپاره هم مناسبه ده.

اټکلوو چې واحدی بارد مقطعې په ښي خوا کې دی نوځکه:

$$\sum M_K = 0;\ H_A(2a - l_{1K}) - N_{3C}.l_{1K} = 0,$$

دلاندينی مثلثاتي رابطې څخه په لاس راوړو:

$$tan\beta = \frac{3a}{l_{1K}} \Rightarrow l_{1K} = \frac{3a}{tan\beta} = \frac{3a}{2} = 1.5\,a$$

په همدې ډول په لاس راوړو:

$$N_{3C} = \frac{2a - 1.5a}{1.5a} H_A = 0.333H$$






۶ .۱۳ شکل: دبهرنیوقوولاندي دري غوټې يزفرم

واحدی بارد مقطعې په کينه خواکې واقع کوواود بنې خوا تعادل يې ګورو:

$$\sum M_L = 0;\ H_B.3a + N_{3C}.a = 0,$$

$$N_{3C} = -3H$$

د تاثيردغه په بهرني باربارورو(۶. f ۱۳۵شکل):

$$N_{C3} = P(-0.6) + 2P(-0.2) + 2P.2a +$$

$$+P.0.1 = -2.5P$$

فرم په III-II کې پرې کوو(۶،۱۴شکل)که واحدي بارد مقطعې په ګينه خواکې واقع شي،نود$N_{87}$ قوې تاثيرکربنه د رسمولوله پاره فرم د ښي خواتعادل ګورو:

$$\sum \mathrm{M_C} = 0;\ H_B.2a - V_B.2a + N_{87}.l_{8C} = 0,$$

$$N_{87} = 2a\frac{V_B - H}{l_{C8}} = (V_B - H)1.414.$$

په دې فورمول کې $l_{8C} = \sqrt{2a}$ سره برابردی.په دې ډول د $N_{87}$

د تاثيرکربښې د رسمولو له پاره (۶.g ۱۳شکل) بايد د $V_B$ تاثيرکربښې اردينات څخه د$H$ دتاثيرکربښې اردينات تفريق کړی شي.




د 6-7 په څنډوکې د انتقالي کربښې

درسمولولپاره اتکلووچې $P=1$

باردفرم ديورتنۍ تسمې د 7په

نقطه کې واقع دی.

د III-IIIمقطعې د ښي خوا د

تعادل له مخې 0او $V_{B=1}$ پيدا

۶،۱۴ شکل:د فرم يوه برخه

کوواو د وراکس $H = \sum M_C = 0$ تعادلي شرط له مخې $N_{87}$ پيدا کوو.

په همدې ډول پو هيږوکه واحدي بارپه 7 نقطه واقع کړو،نودفرم په 7-8

ميله کې دننه قوه $N_{87}$ صفرکيږي اودا د $N_{87}$ په تاثيرکرښه کې ښودلى شو دغه کرښه باروو:

$$N_{87} = P.0.707 = 0.707P$$

د$N_{68}$ تاثيرکرښې د رسمولوله پاره د واحدي باردوه حالتونه وګورو.

لومړى بار په 6نقطه کې د 6نه بهرواقع کوو.د$N_{68}$ د تاثيرکرښه په (h.۶ ۱۳شکل) کې ښودل شوې ده.

## ۶,۴ مثال

يودرې غوټيزفرم(۱۵,۶ شکل)دافقي اوعمودي متمرکزلاندې واقع دى اتکاءيزعکس العملونه اودننه قوې يې په پيداکړئ.

**حل**

د دغه پوښتنې حل د فرم د $H_A$،$V_B$،$V_A$ او $H_B$ تکاءيزوعکس العملونو له پيداکولونه پيل کوو.بيا په پرله پسې توګه دفرم د A،1،2 او3 غوټې پرې کوواو دهرې يوې هرې يوې برخې تعادل يې ګورو،چې له هغوې څخه د فرم په ميلوکې امتدادي قوې په لاس راځي.
له دې نه ورسته فرم د I-I اوII-II په مقطعوکې پرې کوواوپه ميلوکې $N_{CB}$ ، $N_{C7}$ او$N_{C4}$ پيدا کوو.دلاس ته راغلو قيمتونود کنترول لپاره د C غوټه پرې کوواودهغې له پاره تعادلې معادلې$\sum X = 0$ او$\sum Y = 0$ ترتيبوو.بيا 4غوټه پرې کوواوپه ميلوکې $N_{45}$= $N_{C4}$او$N_{47}$ پيدا کوو.

له دې نه وروسته د Bغوټه‌پرې کوواودهغې له پاره هم تعادلې معادلې ترتيبوو.

بیا د 5غوټې تعادل ګورو $(\sum X = 0)$ اود $N_{57}$ قیمت پید ا کوو.د
کنترول لپاره د 7غوټه په پام کې نیسواوتعادلي معادلي $\sum X = 0$
او$\sum Y = 0$ ترتیبوو.




۶,۱۵شکل:دبهرنیوقوو لاندې فرم

۶,۱۵ شکل :فرم د بهرني بار لاندې

### ۶,۸ د ګاډراوفرم د ګروپیدنې ښودنه

د ګاډر له پاسه چې کوم بهرنی بار اغیزه کوي،په پایله کې په هغې کې د شکل بدلون یعنې ګروپیدنه رامنځته کوي(۶,۱۷ شکل). دشکل نه کتل کیږي،چې د ګاډرډیره لویه ګروپیدنه د ګاډرپه منځنی برخه کې ده.

همدارنګه که مونږ یوه ستنه یا پایه په پام کې ونیسو(۶.a ۱۸ شکل)،نو دغه ستنه هم دشکل بدلون یعنې ګروپیدنه حاصلوي(۶.b ۱۸ شکل).




۱۷,۶ شکل:دبهرني بارلاندې ګاډر




۱۸,۶ شکل:دبهرني بارلاندې ستنه یا پایه




۱۹,۶ شکل:دبهرني بارلاندې ستنه یا پایه

د فرم بل ډول په پام کې ونيسو( ۲۰۶او۲۱,۶ شکلونه) نودغه فرم هم شکل بدلون يعنې ګروپيدنه حاصلوي.




۲۰,۶ شکل:دبهرني بارلاندې ستنه يا پايه




۲۱,۶ شکل:دبهرني بارلاندې ستنه يا پايه

۵,۶ مثال

د يو فرم (۲۲,۶ شکل)له پاره د اتکاءيزعکس العملونود پيدا کولو نه وروسته دعرضي قوو اوکوږوالي مومنتونو دياګرامونه رسم کړئ.




۲۲,۶ شکل: دبهرني بارلاندې فرم

حل

لومړی نسبت نقطې ته د ټولوقوود مومنتونوالجبري مجموعه په پام کې نیسو:

$$\sum M_A = 0;\ 5 \times 8 - 15 \times 4 +$$

$$+30 \times 6 - R_C \times 20 = 0$$

$$R_C = \frac{40 - 60 + 180}{20} = \frac{160}{20} = 8\ kips$$

نسبت $y$ محورته ستاتیکي معا دله ترتیبوو:

$$\sum F_y = 8 - 5 + R_{AY} = 0$$

$$R_{AY} = 3\ kips$$

نسبت $x$ محورته ستاتیکي معا دله ترتیبوو:

$$\sum F_x = 30 - 15 - R_{Ax} = 0$$

$$R_{Ax} = 15\ kips$$

اوس عرضي قوې پيداکوواوډياګرام يې رسموو:

$$Q_A = -3\ kips;$$

$$Q_B = -8\ kips;$$

$$Q_C = -8\ kips.$$




۲۲,۶شکل:دقوو لاندې فرم

له دې نه وروسته د کوږوالي مومنتونه پيدا کوواوډياګرام يې رسموو:

$$M_A = 0;$$

$$M_B^{I.S} = -3 \times 8 = -24\ kip.ft;$$

$$M_B^{R.S} = -3 \times 8 - 60 = -84\ kip.ft;$$

$$M_C = -180\ kip.ft$$

**۷,۶ مثال**

د يو فرم (۲۳,۶ شکل)له پاره د اتکاءيزعکس العملونود پيدا کولو نه وروسته د عرضي قوواوکوږوالي مومنتونوډياګرامونه رسم کړئ.

**حل**

لومړي اتکاءيزعکس العملونود پيداکولولپاره ستاتيک معادلې ترتيبوو:

$$\sum M_B = 0;\ 38.7 \times 20 - 30 \times 9 - E_y \times 12 = 0;$$

$$\sum F_x = 0;\ 30 - B_x = 0;\ B_x = 30\ kips$$

$$\sum F_y = 0;\ -B_y + 42 - 38.7 = 0;\ B_y = 3.3\ kips$$

اوس دعرضي قوواودکوږوالي مومنتونوډياګرامونه رسموو:

$$Q_B = -3.3\ kips;$$






۲۳,۶ شکل: دبهرني بارلاندې فرم[5:192-193]

$$Q_C^{L.S} = -3.3\ kips;$$

$$Q_C^{R.S} = 38.7\ kips;$$

$$Q_D^{L.S} = 38.7\ kips.$$

$$M_B = 0;$$

$$M_C^{L.S} = -39.6\ kip.ft$$

$$M_C^{R.S} = -309.6\ kip.$$

او همدارنګه په (۲۳ d.۶شکل) کې :

$$Q_A = -3.3\ kips$$

$$Q_B = -3.3\ kips$$

$$M_A = 39.6\ kip.ft;$$

$$M_B = 0\ .$$

**۸,۶ مثال**

دیوچوکاټ (۶,۲۴شکل) لپاره $l = 2\ M$ ، $h = 2\ M$ ، $M = 4KN.M$

او $F = 4\ KN$ راکړل شوي دي.

**حل**

الف. دچوکاټ کینوماتیکي څیړنه

۱.دسیستم دازادی حد پیداکوو:

$$W = 3K - (2.S_{rec} + S)$$

$W$- داستقلالیت حد.

$K$- دسیستم دغوټوشمیر(3).

$S$- دسیستم دمیلوشیمر(5).

$S_{rec}$- داتکاءیزومیلوشمیر(2)




$$W = 3 \times 3 - (2 \times 2 + S) = 9 - 0 = 0$$

د پورتنی معادلي نه کتل کیږي ،چې دغه سیستم هندسي نه بدلون مونده‌نکی دی.

ب- دسیستم اتکاءیزعکس العملونه پیداکوو:

$\sum F_x = 0;\ x_A - x_1 = 0;\ y_A = 4\ KN$

د جوړښتونوتحليل

$$\sum M_A = 0;\ 4 \times 2 - x_1 \times 2 = 0;\ x_1 = 4\ KN$$

$$x_A = x_1 = -x_2 = -x_B$$

b




d




c)






۶,۲۴ شکل:دبهرنی بارلاندې چوکاټ




۶,۲۵ شکل:دچوکاټ دغوټوپرې کونه [1.C.M Анохин.Н.Н,

## پوښتنې

**۶,۱ پوښتنه:** د یو پارابولي کمان (۶,۲۶ شکل)له پاره که د کمان د وایې اوږدوالي یې 120ft او لوړوالي یې بیلا بیل قیمتونه لري ،لکه h=12,24 8 ft ولري،نوکششي قوه T پیداکړئ.




۶,۲۶ شکل: دویشلي بارلاندې درې غوټې یزکمان

**۶,۲ پوښتنه**

دیو پا رابولي کمان(۶,۲۷ شکل) له پاره،چې د بیلابیلومتمرکزوبارونو لاندې واقع دی.اونورې فاصلې په شکل کې ور کړل شوي دي اتکاءیز عکس العملونه یې پیداکړئ.




۶,۲۷ شکل: دمتمرکزوبارونولاندې درې غوټې یزکمان

**۶,۳ پوښتنه**

د يوپارابولي کمان(۶,۲۸ شکل)له پاره،چې د بيلا بيلومتمرکزوبارونو لاندې واقع دی.او نورې فاصلې په شکل کې ورکړل شوي دي اتکاءيعکس العملونه يې پيداکړئ.




۶,۲۸ شکل: دمتمرکزوبارونولاندې يزکمان[4: 255]

**۶,۴ پوښتنه**

د يوپا رابولي کمان(۶,۲۹ شکل)لپاره،چې د ويشلی منظم بارلاندې واقع ددی.اونورې فاصلې په شکل کې ورکړل شوي، اتکاءيزعکس العملونه يې پيداکړئ.




۶,۲۹ شکل: دمتمرکزوبارونولاندې يزکمان[4: 252]

**۶,۵ پوښتنه**

د يوقيچې ډوله جوړښتونو (۶,۳۰ شګل) او (۶,۳۱ شکل) ثاکلي او يا

نا ثاکلي ؟





۶,۳۰ شګل ۶,۳۱ شکل

**۶,۶ پوښتنه**

د يوقيچې ډوله جوړښت (۶,۳۲ شګل) کوم ډول سيستم دی ثاکلي او که ناثاکلي ؟



۶,۳۲شکل

**۶,۷ پوښتنه**

د يو قيچې ډوله جوړښت (۶,۳۳ شګل) او(۶,۳۴ شکل) په ميلو کې

کششي اوفشاري قوې پيداکړئ.




۶,۳۳ شکل:دبارلاندې قيچي




۶,۳۴ شکل:دبارلاندې قيچي

# اوم څپرکی

## د قووترسره شوی کاراودځای بدلون عمومي ميتودونه

### ۷ .۱عمومي معلومات

د نا ټاکلو ستاتيکي سيستمونوپه شميرنه کې دستاتيک د تعادلي معادلونه برسيره د شکل بدلون يا د ځای بدلون اضافي معادله بايدترتيب شي اوله دې لارې کــولی شو دغه نا ټاکلې مسئله حل کړو.د دې ډول مــعادلې د ترتيبولوله پاره بايد د ساختمان څيړنه وشي.د ټاکلي ستاتيکي سيستمونود شميرنوپه مرسته دعناصرودشکل بدلون بايد داسې وشي،چې نه يوازې محکم بلکې بشپړه شخې هم ولري،يعنې د دې ډول ساختمان د عناصرو څخه د ګټې اخيستنې پروسه کې بايد د شکل بدلون اندازه د مجازي حد نه تجاوز ونه کړي.

له همدې امله د ارتجاعي سيستمونو د ځای بدلون د ميتودونوڅيړنه، چې د ساختمان د انالېزيا تحليل دعمدومسئايلوڅخه ګڼل کيږي.

## ۷,۲ د بهرنی قوو ترسره شوی کار

د سختمان د عناصرود بارونې په پايله کې هغه د سکون حالت څخه په حرکت راځي،يعنې هغه حرکت چې سرعت اوتعجيل ولري.هرڅومره چې د اضافي بارسرعت ډېروي، نو په هماغه اندازه د سختمان د شکل بدلون زياتيږی.د دورو باروني په پايله کې انرشيايي قوې لري اويا هيڅ شتون نه لري،چې د بارونې دغه حالت ته ستاتيکي بارونه ويل کيږي د

مثال په توګه د ارتجاعي ګاډر(۱,۷ شکل)له پاسه د P قوې ترسره شوی کار وټاکئ د عنصرد شکل د لړ بدلون په پایله کې د نقطې او یا مقطعې د ځای بدلون دبارپورې مسقیماءمتناسب دی:

$$\Delta = K \times P \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots (a)$$




۷,۱ شکل:دمتمرکزبار لاندې کنسولي ګاډر

په دې فورمول کې:

Δ- دبارپه استقامت کې دځای بدلون دی.

$k$- دتناسب ضریب دی،چې دعنصرد موادو،شیمااوابعادو پورې اړه لري.

$P$- واردشوی باردی.

د ډېرې کوچنی بارونې $dP$ له زیاتیدوسره په پایله کې د ځای ډېر کوچنی بدلون $d\Delta$پیښیږي،چې په دې ځای بدلون کې دبارد واردیدو په پایله کې ډېرزیات کوچنی کار $dA$ ترسره کیږي:

$$dA = (P + dP)d\Delta \approx P \times d\Delta$$

$$dA = P \times d\Delta \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots \ldots . (b)$$

ځرنګه چې د قيمت ډېر زيات کم دی،نوځکه له هغه نه تيرېږواوپه $b$ معادله کې د $\Delta$ قيمت په وضع کولوسره په لاس راوړو چې:

$$dA = P \times d\Delta = K \times P \times dP \dots \dots (c)$$

د دغه معادلې دانتګرالونې په پايله کې د P قوې ترسره شوی کار A په لاس راوړو:

$$A = \int_0^P K \times P \times dP = K \int_0^P P \times dP = K \frac{P^2}{2}$$

ځرنګه چې $\Delta = K \times P$ نو له دې څخه د $k$قيمت په لاندې دول په لاس راوړو:

$$K = \frac{\Delta}{P}$$

د $P$قوې ترسره شوی کاربه لاندينی قيمت وي:

$$A = \frac{\Delta}{P} \times \frac{P^2}{2} = \frac{P \times \Delta}{2}$$

$$A = \frac{P \times \Delta}{2} \dots \dots \dots \dots \dots \dots \dots \dots \dots . (7-1)$$

په (۱) فورمول کې $\Delta$ د $P$ قوې په امتد ادکې د ځای بدلون مرتسيم دی.

که دمتمرکزې قوې پرځای پرګاډرباندې متمرکزm مومنت وارد کړو، نوپه دې حالت کې د مومنت (۷,۲ شکل) ترشوی کارپه لاندې ډول لاس

ته راځي:




۷,۲ شکل:دمتمرکزمومنت لاندې ګاډر

$$A = \frac{m \times \varphi}{2} \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.(7.2)$$

په پورتني فورمول کې:

$\varphi$ - دګاډرپه هماغه مقطع کې چې دمتمرکزمومنت لاندې واقع دی.

کله چې ګاډرهم مهاله دمتمرکزوقوواومتمرکزومومنتونوتراغيز لاندې واقع شي(۳,۷شکل)،نوپه دې حالت کې د دې قوو ترشره شوی کارد دوې د حاصل شووکارونود جمع حاصل سره برابر دی:

$$A = P_1\frac{\Delta_1}{2} + P_2\frac{\Delta_2}{2} + m_1\frac{\varphi_1}{2} - m_2\frac{\varphi_2}{2}$$

په اخرنۍ افاده کې منفي علامه ښيي،چې د $\varphi_2$ دوران زاويې لوری




۷,۳ شکل:دمتمرکزوبارونوتراغيزلاندې ګاډر

د متمرکزمومنت $m_2$ پرخلاف دی.

$$A = \sum P_i \frac{\Delta_i}{2} + \sum m_i \frac{\varphi_i}{2} \ (7\text{-}3)$$

اوکله چې nشميرمتمرکزې قوې او n شميرمتمرکزمومنتونه ديوګاډر له پاسه اغيزه وکړي،نو په دې مهال د دوي ترسره شوی کار په لاندې ډول شميرل کيږي:

